

دویمه شعري ټولګه

# سردرې

امیر خان موسی خېل

# اعلان

ګرانو او قدرمنو لوستونکو پښتو ډاټ نیټ د دې کتاب سره ډیره خواري کړی ده او په ډیر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقي جرم دے بلکې ډیر سخت منع دی

پښتونستان

پښتو ډاټ نیټ

Distribution ,posting or copying is strictly prohibited without written permission of Pukhto.Net

**Pukhto.Net**

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب ځانګړني:

= = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = = =


د کتاب نوم :: **سردرې**

شاعر :: امير خان موسی خېل

چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ نېټه :: ۱۳۸۵ ل/ ۲۰۰۶ ز

کمپوزګر :: حاجي محمد عمرخېل

**چاپ او کمپيوټر ځای**

د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه_ پېښور

E-mail: danish2k2000@yahoo.com Tel/ Fax: 2564513

# ډالۍ

د پښتو ادبي غورځنګ په نوم

PUKHTO.NET

# خپلې خبرې

زه ړومبے د الله پاک ډېر ډېر شکرګذار یم، چې ماله ئې د دویمې شعرې مجموعې توان راکړو، خبره د شعر او شاعرۍ ده؛ نو اوس نه پوهېږم د خپلې شاعرۍ په باره کښې به زۀ پخپله څۀ ووایم، دا فیصله به لوستونکي کوي، چې د شعر ددې نازک فن سره مې تر کومه حده انصاف کړے دے.

اوس هر پښتون دومره باذوقه او باشعوره دے، چې قوي او کمزورے شعر پېژني او د شاعر په فني نزاکتونو هم ښۀ پوهېږي؛ نو څکه نورې خپلې خبرې اوږدول نه غواړم او د کتاب لوستلو ته مو پام را اړوم.

ډېره مننه

**یادونه:**

په دې کتاب کښې د ړومبۍ شعرۍ ټولګې یو څو شعرونه د ځینې ملګرو په وینا هم چاپ شول.

امیر خان موسی خېل

کوز دیر، جندو بازارک.

PUKHTO.NET

# ثنا

دریابونه که سیاهي ونې قلم شي
بیا به هم ستا د صفت دپاره کم شي

حق به ستا د کبریا هم پوره نهٔ کړي
ثنا خوان که د دنیا ټول بني آدم شي

ستا یوې جلوې ته نه شي رسېدلے
اسمان څهٔ چې ځمکه هم نجم نجم شي

یو روح نه شي بې له تا پیدا کولے
کهٔ راجمعه ټول عرب او ټول عجم شي

ربه ستا دې لوی شان له کافي نه ده
کاتبان کهٔ د دنیا تمام عالمٔ شي

ستا رتبې ته ذره نه شي رسېدلے
اولیا کهٔ واړه څومره محترم شي

PUKHTO.NET

# ثـنـا

د بې جـان ځمکې جانـدار پیـدا کـړو تـا
د خوشـکۍ نـه شـین بهـار پیـدا کـړو تـا

په پلیت ډېران رنګین ګلان زرغون کړې
د بدرنګـه حسـندار پیـدا کـړو تـا

تعجب نـه لـری چې پـلار د عیسی نـه و
آدم بې مـوره بې پـلار پیـدا کـړو تـا

ګېر چاپېر په درست جهان تیارې خورې وې
تورې شپې نـه سپین سهار پیدا کړو تـا

دا شخصي د **موسی خېل** څهٔ کمال نـه دے
ورلـه ذهـن کښې اشـعار پیـدا کـړو تـا

❋❋❋

PUKHTO.NET

# د نړۍ عظیم انسان

ځلـــن ستورے د اسـمان دے مصـــطفی
روڼ ښکــاره پــه کــل جهــان دے مصـــطفی

بنــدګی ئــې تــر جوماتــه پــورې نــه ده
ننګیالـــے مـــرد میـــدان دے مصـــطفی

هم خطیب دے هم طبیب دے هم ادیب دے
هـــم منلـــے حکمـــران دے مصـــطفی

لاډ میکالې مارکس لېلن ورته حیران دے
داسـې پوهــه قانونـدان دے مصـــطفی

خوږ ښبستن دے خوږ والد دے خوږ ملګرے
خـوږ فرزنـد خـوږ بابــا جـان دے مصـــطفی

ستر نبی دے ستر ولی دے ستر قاضی دے
ستر قایـد ستر سیاستدان دے مصـــطفی

په هر څه کښې بې نظیر دے **موسی خېله**
د نـــړۍ عظـــیم انســـان دے مصـــطفی

❋ ❋ ❋

PUKHTO.NET

# نعت شریف

زما یار خو هم شېرین هم ګلورین دے
هم ریحان دے هم ښایسته ګل د یاسمین دے

خوښه ستا ده چې په کوم نامه ئې بولې
هم صادق دے هم صابر دے هم امین دے

رحمتونه پرې الله تعول تمام کړي
هم عاقل دے هم عادل دے هم مؤمن دے

په تمامو کائناتو سربالا دے
هم قوي دے هم سنګین دے هم حسین دے

فرښتې ئې هم مقام ته نه رسېږي
عزتمند په کل جهان کښې اولين دے

**موسی خېل** خکه خوشحال په دنیا ګرځم
چې حبيب زما رحمة للعالمين دے

❋❋❋

PUKHTO.NET

ژوند د هر انسان د سر په هر زمان کښې غواړمه
امن امن امن په تمام جهان کښې غواړمه

خوښ مې دے قلم د ټوپک سره مې نه لګی
ښۀ دے ښۀ کتاب د کوتک سره مې نه لګی
د وینو د باران په ځاے د مینې باران غواړمه
امن امن امن په تمام جهان کښې غواړمه

دا مې ده غوښتنه د تمامو نړیوالو نه
واخلئ لرې لاسونه د بارودو د بمانو نه
رحم انسانانو له انسان وجدان کښې غواړمه
امن امن امن په تمام جهان کښې غواړمه

هر سړی سنګین وېستلے هر سړے قتلونه کړی
ربه په هر لوری د دهشت دریاب موجونه کړی
مظلومو له د نوح کشتۍ په دې طوفان کښې غواړمه
امن امن امن په تمام جهان کښې غواړمه

خور د **موسی خیل** د زړۀ اواز کړې په هر لور
ورسوې هر غوږ ته د امن امن شور
ژباړه مې ددې نظم په هر زبان کښې غواړمه
امن امن امن په تمام جهان کښې غواړمه

✲

ختمې کوي په مخ خالونه ئې ګړوبې جوړوي
تازه تازه زخمونه ماله په زړګی جوړوي

ترجماني د خپل ساده ژوندون په ګوتو کوي
ساده ګلونه په چونه په دېوالګی جوړوي

د غریبې پته ئې صفا صفا ددې نه لګی
د شنو شوتلو د ډنډرو نه بنګړی جوړوي

ډوبه لوګو کښې ناسته ده د نغری غاړې ته
د ژړې ورخ ده د مشنګو نه ګونګړی جوړوي[1]

ساګ د شړشمو په سپرلی کښې د غندلو کوي
زېړ زېړ چاپونه ئې ګلان په اننګی جوړوي

پیسې ئې غوټه کړې پلو پسې روانه شوله
کولال له ځی پخپله خوښه سرهٔ منګی جوړوی

ورته بلبړی **موسی خېله** په ډېوټ کښې ډېوه
د ململی لوپټې پېڅکو ته ځونډی جوړوی

[1] د مشنګو نه ګونګړی او پېتی پخېږی.

✵

ژوند د هر انسان د سر په هر زمان کښې غوارمه
امــن امــن امــن پــه تمــام جهــان کښــې غوارمــه

خــوښ مــې دے قلـم د ټوپـک سـره مـې نـه لګـى
ښـۀ دے ښـۀ کتـاب د کوتـک سـره مـې نـه لګـى
د وينـو د بـاران پـه ځـاے د مينـې بـاران غوارمـه
امــن امــن امــن پــه تمــام جهــان کښــې غوارمــه

دا مـې ده غوښتنــه د تمــامو نړيوالــو نــه
واخلـئ لـږ لاسـونه د بـارودو د بمـانو نـه
رحـم انسـانانو لـه انسـان وجـدان کښـې غوارمـه
امــن امــن امــن پــه تمــام جهــان کښــې غوارمــه

هـر سړي سنګين وهسـتلے هـر سړے قتلونـه کړي
ربـه پـه هـر لـورى د دهشـت دريـاب موجونـه کړي
مظلومو لـه د نوح کشتئ پـه دې طوفان کښې غوارمه
امــن امــن امــن پــه تمــام جهــان کښــې غوارمــه

خـور د **موسـى خېـل** د زړۀ اواز کـړې پـه هـر لـور
ورسـوې هـر غـوږ تـه د امـن امـن شـور
ژبـاړه مـې ددې نظـم پـه هـر ژبـان کښـې غوارمـه
امــن امــن امــن پــه تمــام جهــان کښــې غوارمــه



PUKHTO.NET

✵

ختمې کوي په مخ خالونه ئې ګروبي جوړوي
تازه تازه زخمونه ماله په زړګي جوړوي

ترجماني د خپل ساده ژوندون په ګوتو کوي
ساده ګلونه په چونه په دېوالګي جوړوي

د غريبۍ پته ئې صفا صفا ددې نه لګي
د شنو شوتلو د ډنډرو نه بنګړي جوړوي

ډوبه لوګو کښې ناسته ده د نغري غاړې ته
د ژړې ورخ ده د مشنګو نه ګونګړې جوړوي[1]

ساګ د شړشمو په سپرلي کښې د غندلو کوي
زېړ زېړ چاپونه ئې ګلان په اننګي جوړوي

پيسې ئې غوټه کړې پلو پسې روانه شوله
کولال له ځي پخپله خوښه سرۀ منګي جوړوي

ورته بلبړي **موسى خېله** په ډېوټ کښې ډېوه
د ململي لوپټې پېڅکو ته ځونډې جوړوي

[1] د مشنګو نه ګونګړې او پېتي پخېږي.

عقل نه لري د سر په کنډولي کښې
چې وباسي اوښ د ستنې په سوري کښې

څوک د ګټو په ختلو نه مړېږي
چې مور کړے ئې ځان نه وي په تالي کښې

حقيقت ئې د دين نه دے پېژندلے
په مونځونو ئې محراب جوړ شو تندي کښې

پردې شلي د اسمانونو عرش ته خېژي
دومره زور دے د مظلوم په اسوېلي کښې

دغه حد د نادانۍ نه دے نو څه دے
د بيکيانې قلم ږدي چې په بوئي کښې

مشوانۍ قلم په لاس کښې ورله روکړه
کبه ادب دې راولې پښتو بچي کښې

PUKHTO.NET

٭

سېلا بونه خو هر څۀ د بر نه لر وړی
ستا د عشق سېلاب مې زړۀ د لر نه بر وړی

زما زړۀ به خلقه ولې نه وچېږی
ډک جام وینه ترې اشنا هر مازیګر وړی

زما زړۀ پخپله شر راوړی خپل کور ته
خلق لرې د خپل کور د خوا نه شر وړی

زۀ د اوښکو رود په تل یمه اخیستې
نېزه وړے خو اوبه مدام په سر وړی

PUKHTO.NET

سوچ پرې مه کوه بې سوچه ځيګر ور کړه
چې د زړه په بدله در نه ځيګر وړي

زۀ اختر کښې غريبي وېستم د کوره
په اختر کښې خلق خپل کور ته اختر وړي

زما زړه ته لا هم نور رانژدې کېږي
چې بېلتون مې ځومره لرې د دلبر وړي

خداے ته وګوره چې ماته مه راګوره
ستا نظر زما د سترګو نه نظر وړي

چا ويل چې **موسى خېل** ستا نه جدا دے
ما ستا غېږ له هره شپه د خيال وزر وړي

***

PUKHTO.NET

ستا پښتو کښې به پښتو ماتې پښتې کړم
ځان به مړ کړم خو پښتو تا به ژوندۍ کړم

که زما په لاسو واګې د وخت راغلې
پښتو ژبه به رسمي زه په نړۍ کړم

پښتو ستا غږ به هر غوږ ته رسومه
زه به تا د اسرافیل د خولې شپېلۍ کړم

زه بچے یم د پښتو، پښتو مې مور ده
خپله مور د خپله ځانه ځنګ پردۍ کړم

د حالاتو دا زنځیر به یو ځل مات کړم
رابهر به دې پښتو د غلامۍ کړم

یو یو لفظ به راټول کړم **موسی خبله**
دا خوره وره پښتو به یو ګېډۍ کړم

PUKHTO.NET

✲

چاپېر خوره ده خاموشي هر خوا په غرونو کښې
نښتر شغار اوبه شړار کوي
مړه غمزده شپېلۍ غږوم ستا په يادونو کښې
نښتر شغار اوبه شړار کوي

د هاړ غرمه ده تنها ناست يم د کمر سورى ته
نرۍ ښکالو مې په غوږونو راځي
ژوند تېرومه د غوږځکو د ځپر سورى ته
نرۍ ښکالو مې په غوږونو راځي

ورتې ورتې تېږې کوم خوشې ناوونو کښې
نښتر شغار اوبه شړار کوي

د چندڼ سر کښې د شينکو شينکو طوطيانو ځالې
د ځېړې ښاخ پسې ګبين د مچو

PUKHTO.NET

د ثـرف پـه ونـه کښــې د تــورو بلبلانــو خــالې
د څېړې ښاخ پسې ګېين د مچو

جـوپې جـوپې هيلـۍ ډوبېـږي پـه ډنـډونو کښـې
نښتر شغار اوبه شړار کوي

سکښې ماښام تيارې خوربږي چينارانو بڼ کښې
د زړه په وينو ستا تصوير جوړوم
نرے باران يخ يخ لګېږي غوريجانو[1] بڼ کښې
د زړه په وينو ستا تصوير جوړوم

څيرې ګرېوان ګرځم په ډنګو غرو سرونو کښې
نښتر شغار اوبه شړار کوي

چې مې رباب له موسی خپله غلے تنګ ورکړو
مرغانو څنګ ته مې اتڼ شروع کړو
رو ګنګوسی له مې د شور او سرور رنګ ورکړو
مرغانو څنګ ته مې اتڼ شروع کړو

بوراګـان سر شـو پـه ګډا پـه سرو ګلونـو کښـې
نښتر شغار اوبه شړار کوي

[1] غوريجان: دا بوټے په غرونو کښې وي.



PUKHTO.NET

# درې شعره

د صحرا ګل د باران په څاڅکو پائی
څکه چغې استسقا د پاره وائی

پتنګ ځله نذرانې منی په وربځو
نذرانې خو د بورا د پاره بنائی

د ورخاړی ګل په مات کودی کښې خاندی
ظلم دے چې د چمن ګلاب څوک ستائی

❋ ❋ ❋

# یو شعر

په دې کچه کوټه منډو کښې ما خرپوڅې کړې
په محلونو کله دا خړه کوډۍ ورکوم

❋ ❋ ❋



PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

✱

زه د ژوند په اوږو بار یم ژوند زما په اوږو بار دے
زه د ژوند ځنې بېزار یم ژوند زما ځنې بېزار دے

خار زما نه کیلې مه کړه اے د وخت جبر وهلیه
څه به ستا ګرېوان راتول کړم زما خپل ګرېوان تار تار دے

مسته مسته خندا کېږي په غور زړهٔ په غورو شونډو
پروت زما په زړهٔ او شونډو د نېستئ سپور سپور غوبار دے

د خیبر حصه بار کړي اوښان هم کابل ته بوځه
خیبر خوار خو د خیبر نه د کابل ورور ئې ډېر خوار دے

د پښتون بچے یو وخت قلم کتاب ته وزګار نه دے
خو لیندۍ او بغندۍ[1] ته په هر وخت کښې ښۀ وزګار دے

رسېدلے چېرته نه دے په ژوندون کښې خپل مرام ته
چې نیولے چا په لاسو د مجاز د خیال مهار دے

پرون ما ژړل په چچغو نن به ته ژاړې په چغو
پرون ستا د خندا وار و نن زما د خندا وار دے

یو تپوس درنه کومه موسی خېله
د سوال ګرو چې دا د کومو خلقو ښار دے

❋❋❋

[1] بغندۍ: ماشومان پرې لوبې کوي.

✵

خير خير ورته ځکه زه اشنا محفل کښې ګورمه
ورک زړۀ ستا د سترګو د درياب په تل کښې ګورمه

خمه د منزل په لوری ځم نه ستړے کېږمه
زۀ د خپل ارمان نښې په دې منزل کښې ګورمه

ښار دې راته وښود محل ښه دې را نه کړه
تا به په لوے ښار کښې زه په کوم محل کښې ګورمه

ځکه هر يو ګل ته په تلو تلو ګښې پښه نيولے شم
ستا خال له رنګونه د چمن هر ګل کښې ګورمه

ښکاری د ښلتون بلا مو بيا منګول په زړونو ږدی
نن ډېر خطرناک خوبونه ستا ځنګل کښې ګورمه

خيال د **موسیٰ خېل** ستا تصور خانته تصوير کړلو
ستا د مخ تصوير زۀ په خپل هر غزل کښې ګورمه

✵✵✵

PUKHTO.NET

چې انسان د انسانۍ کربنې بهر شي
زوروَر که انسان نه وي زوروَر شي

چې وحشت ئې د شعور سترګې ړندې کړي
بیا انسان د ځناورو هم بدتر شي

څوک پخپل اختیار پیدا ښځه نر نه دي
بې اختیاره څوک پیدا ښځه څوک نر شي

ډېر سرونه د خپل سر په سر کړي قتل
چې پخپله جوړ د چا سر ته خطر شي

پکښې ډېرې خولې شي ماتې **موسی خېله**
یوې خولې د بد ګفتاره نه جوړ شر شي

PUKHTO.NET

خدای زده چې تا زما د ذات ولې نفرت کړے دے
ما خو له تا سره جانانه تل الفت کړے دے

خان ښه سينګار کړه چې راځي زمونږ د سيمې په لور
د سپرلي هر ګل ته مې ياره ستا صفت کړے دے

اتفاقي دواړه يو ځاے د کوڅې منځ له راغلو
رب مو د يو بل په ديدن کښې نن قسمت کړے دے

ما ورته خون د خپل شهيد زړګي ورو ښخښلو
چې ستا نظر په ځان د قتل شهادت کړے دے

ذره کمے ورپکښې نشته په هر تول پوره دے
ستا د بشر په جوړولو حد قدرت کړے دے

يو خوا خواني بل خوا توبه مې **موسی خبله** کړې
بل خوا جانان راته پخپله د جام ست کړے دے

PUKHTO.NET

# د مور ارزو

زما بچیه مسافر بچیه خداے دې پخپل کلی ګذران وکړه
راځه راځه ددې پردی وطن نه په مور د غر غوندې احسان وکړه

درلـه مې شهد کـورنی ایښې دی
د سور لرګی هغې ګلدار صندوق کښې
هم مې سوچه درلـه غوړی ایښې دی
د سور لرګی هغې ګلدار صندوق کښې
د لوے کلا د هغې منځ کوټې نه په ما اواز بیا د مورجان وکړه
زما بچیه مسافر بچیه خداے دې پخپل کلی ګذران وکړه

چې په شپېلۍ به دې شوده څکل په غلا
زما دې هغه ماشومتوب یادېږی
چې د کندو به دې غنم وړل پـه غـلا
زما دې هغه ماشومتوب یادېږی
خپل وړوکوالے بیا رایاد کړه رانه ورانے یو ځل بیا هغه شان وکړه
زما بچیه مسافر بچیه خداے دې پخپل کلی ګذران وکړه



PUKHTO.NET

ځلور کونجکې دوه د زرو روپۍ
ستا د پړکۍ په جې ګنډلې وې ما
يو چاقوګے دوه د سيلور کوفې
ستا د پړکۍ په جې ګنډلې وې ما
يو د تيلي بل د پيتلو تاويز ما وې سنګار ئې د ګريوان وکړ
زما بچيه مسافر بچيه خدائے دې پخپل کلي ګذران وکړه

ما خو به ستا د روښي دپاره
د خپل سر نوې لوپټه شلوله
هم به مې ستا د سيزني دپاره
د خپل سر نوې لوپټه شلوله
که دې باور زما په خوله نه کيږي د بانډ والې نيا پرسان وکړه
زما بچيه مسافر بچيه خدائے دې پخپل کلي ګذران وکړه

ستا د درمې قلم لرګي تختې
زما د سترګو کيږي ګله
د تور تمرې د سليټي تختې
زما د سترګو کيږي ګله
تا به سحر وې مشوانۍ مې څه شوه ما وې لټون ئې په يخدان وکړه
زما بچيه مسافر بچيه خدائے دې پخپل کلي ګذران وکړه

بچيه ښه دے چې بچې دې شته دے
زما پرې ستا مينه ماتيږي دلته

PUKHTO.NET

شکر دے شکر چې بې بې دې شته دے
زمـا پـرې ستا مينـه ماتېږي دلتـه
د انتظار لمحې کړه ختمې راله د ديدنونو لړ باران وکړه
زما بچيـه مسافر بچيه خداے دې پخپل کلي ګذران وکړه

کـور کښـې بـلا بـلا ښادي تېرې شوې
خـو تـا يـوه پـه سترګو ونـه ليـده
ښې بې حسابه خوشحالي تېرې شوې
خـو تـا يـوه پـه سترګو ونـه ليـده
دې لوے اختر له به راځې خامخا اقرار ښهٔ پوخ پخپل زبان وکړه
زما بچيـه مسافر بچيه خداے دې پخپل کلي ګذران وکړه

ستـا د ممـانې او د ښکـر تيکـان
کلـک پـه رومـال کښـې دى تـړلى مـا
د ناغـه دار لرګـي کمـر تيکـان
کلـک پـه رومـال کښـې دى تـړلى مـا
ښکار د مشکنو د ليندې په لاسکي په چينارونو کښې قربان وکړه
زما بچيـه مسافر بچيه خداے دې پخپل کلي ګذران وکړه

زمـا دې تمـه د راتلـو پيـدا شـي
چـې کارغـه وکـړي پـه بلـې نـارې
زړه کښـې ارزو ستا د ليدو پيدا شي
چـې کارغـه وکـړي پـه بلـې نـارې[1]

(1) په ... کارغه نارې ددې څه اسلامي حېثيت نشته. هسې دا خبره مشهوره ده.

نور په چوتې مه راځه چوټ راځه دلته د رخت ځان له دوکان وکړه
زما بچيه مسافر بچيه خداے دې پخپل کلي ګذران وکړه

که به په سر مې ډک منګے و
بيا به مې هم وړې ته په ډودۍ باندې
که به هر څو مې درونډ ګېډے و
بيا به مې هم وړې ته په ډوډۍ باندې
زړۀ به مې وې د ځان پروا مه کوه پام دې د خپل وړوکي خان وکړه
زما بچيه مسافر بچيه خداے دې پخپل کلي ګذران وکړه

که به ښادۍ دې وه تروريانو کړه
لکه لينځکه به سينګار کړې ما
چې به مې وړې د ماماګانو کړه
لکه لينځکه به سينګار کړې ما
ويل به مې مور ته ماله هيڅ مه کوه زوے له مې مور جامې بوټان وکړه
زما بچيه مسافر بچيه خداے دې پخپل کلي ګذران وکړه

زه په اردو او فارسۍ نه پوهېږم
ماته به خط صفا پښتو کښې ليکې
په عربۍ انګرېزۍ نه پوهېږم
ماته به خط صفا پښتو کښې ليکې
مور ته پخپله مورنۍ ژبه کښې اے **موسی خېله** خپل داستان وکړه
زما بچيه مسافر بچيه خداے دې پخپل کلي ګذران وکړه



PUKHTO.NET

✲

نه په نصیحت نه په خبره دے
زړۀ زما بې سره دے بې سره دے

ستر ګې دې مابنام کښې پټې پټې شوې
پاتې لا شو ګیر خو تر سحره دے

څو ځل مې د مینې کتاب ختم کړو
بیا مې شروع کړے تول د سره دے

شر که د ملکونو که د کلو وی
زړۀ زما چاودلے د هر شره دے

خط ورله لښتي وړی د ریبار په ځاے
کور مې د جانان د کور نه بره دے

یو په محبت **موسی خېل** پوهه دے
نور خو د هر څه نه ناخبره دے

✲ ✲ ✲

PUKHTO.NET

✻

بیداری چې قام کښې نه وی هغه قام نه پاتې کېږی
چې ژوندون ژوندے تېر نه کړی د چا نام نه پاتې کېږی

په پیسو چې وی جامونه میخانې شی ډکې پاتې
بې پیسو چې شراب څکل شی بیا یو جام نه پاتې کېږی

د بکیانې نه په ښار کښې یو دا نه نه کنډمېږی
په صحرا کښې په بادام کښې یو بادام نه پاتې کېږی

معلومېږی چې څوک شته دے د دنیا د چلولو
چې لمر د پرېوتو نه یو ماښام نه پاتې کېږی

په اسلام کښې که پښتو ده نو پښتو کښې هم اسلام دے
چې پښتو په چا کښې نه ئی پکښې اسلام نه پاتې کېږی

د کوم کلی مشری چې کشران کړی **موسی خېله**
یو هفته په هغهٔ کلی کښې امام نه پاتې کښېږی

✻✻✻

PUKHTO.NET

٭

تـا چې زمـا پـه زړهٔ د خپـل زړهٔ پېـرزوينې وکـړې
روح مـې بيـدار شـو تخيـل مـې غځـونې وکـړې

د زړهٔ پـه بـاغ مـې تـالان ګډه و يـاره چېرتـه وې تـهٔ
چـا د غوټـو چـا د ګلونـو تښتـونې وکـړې

چې د سر سترګې مې رندې کړې د هجران غمونو
زمـا د زړهٔ سـترګو جانانـه غـړونې ورکــې

زهٔ وېريدمـه چــې الفــت بـه دې نفـرت زېـږوي
خـو سـتا نفـرت د الفتونـو زېـږونې وکـړې

زمـا د زړهٔ مارغـهٔ ګيـر نـه شـو د فرېب پـه لومـه
رقيـب کـهٔ ډېـرې د دامونـو غـوړونې وکـړې

ما وې چې تهٔ به مې په ژوبل زړهٔ مرهم پورې کړې
تـا د مـرهم پـه ځـاے د مـالګې دوړونـې وکـړې

دا غمزده شـپېلۍ کـوم شـپون د غـر پـه سر غـږوی
بيـا **موسى خېل** تـه ئـې د خپـل غـم يـادونې وکـړې

٭٭٭

## قطعه

زۀ ګل نه بوے کومه زۀ ګل خورم د ډېرې مينې نه
خلق ترې غونچې کړی زه ئې شيندم د ډېرې مينې نه

خلق محبت کښې ښکلول کوی د يار سره
زۀ په محبت کښې يار وهم د ډېرې مينې نه

## قطعه

ګوزار کوه پکښې تلوار مه کوه
وله مې زړۀ د غشو شمار مه کوه
بيا به دې نه وځي د زړۀ د کوره
زما د زړۀ دومره مدار مه کوه

## يو شعر

څه پروا مې ستا د خېل په لښکر نشته
ورک خېل نه يمه رقيبه **موسی خېل** يم

❋ ❋ ❋

PUKHTO.NET

✲

هغه دنګ چینارونه چې اوس شته دے او که نه
د سین غاړې ته ګلونه چې اوس شته دے او که نه

چې به مونږ پکښې کولې کوټنې پټپټاوانی
هغه خړ خړ کنډرونه چې اوس شته دے او که نه

چې شپونکی به غړول هره ورځ د غر لمن کښې
هغه مړۀ غمجن سازونه چې اوس شته دے او که نه

چې کتار به ورته جوړ و مازیګر د ښکلو پېغلو
هغه مست مست ګودرونه چې اوس شته دے او که نه

قفلو چې به ترې خکل د اوبو یخ جامونه
د لار خنګ ته هغه خومونه چې اوس شته دے او که نه

د یوې نوم ګلالۍ وه او د بلې نوم ملاله[1]
د لنډۍ چم هغه جونه چې اوس شته دے او که نه

موسی خېل د یار جوړ کړے یو تصویر د غر په څوکه
په تور ګټ څه نشانونه چې اوس شته دے او که نه

[1] ګلالۍ ، ملالۍ خیالي نومونه.

PUKHTO.NET

پـه چمـن کـۀ پـه ډېـران کـۀ پـه ځنګـل وي
ګل کۀ هر چېرته ولاړ وي ښکلے ګل وي

ورتـه مـه کـړه نصـيحت پـه قـلار کېـنه
لېونـو تـه نصـيحت کـول کنځـل وي

سـاده ګـان جـوړې زمونـږ نـه سـاده ګـان
د تـورو اوبـو پـه سـر چېرتـه کنګـل وي

پښتانـه پـه پښـتو ليـک نـه کـوي ولـي؟
نه پوهېږم دې پښتو کښې بـه څۀ چل وي

وژل هـر يـو زهريلـه خزنـده غـواړي
کۀ مچۍ وي کۀ لړم وي کۀ غونډل وي

د ناغه[1] ورشو پـه مېنځ کښې خروي مـال
**موسی خېله** چې قـوې د چـا منګـول وي

[1] ناغه: بنديز.

PUKHTO.NET

✻

د تصور کب مې په تل د دریابونو ګرځي
مارغه د خیال مې پاس اوچت په اسمانونو ګرځي

مضبوط ایمان مې اجازت د څکلو نه راکوي
تږې نظر مې سور د میو په جامونو ګرځي

تسبیح په لاس مې متقي زړهٔ په خلوت کښې خوښ وي
دېوانه شوق مې په دنګو دنګو غرونو ګرځي

داسې مې زړه زر زر درزېږي ستا لیدلو سره
څنګ په رباب چې زر زر ګوتې په تارونو ګرځي

جانانه ستا غم مې زړهٔ داسې پاس په سر ګرځوي
څنګ چې کشتي پاس د موجونو په سرونو ګرځي

ملنګ فطرت د **موسی خېل** خړې جونګړې غواړي
شاهي زړګی نې په رنګینو محلونو ګرځي

✻✻✻

PUKHTO.NET

✻

لو په غرمو په سور هار کښې په ګېډۍ کوی
ورتـې ورتـې تـېـې د سـتـړې زندګـۍ کـوی

چېرته يو چونګ جوار غريبې له ورکړی دی چا
د بوټيارۍ په باټ کښې خان له ترې پولۍ کوی

تـور تـور خالونـه زدی پـه زنـه د غـنم د تـورکی
د پېروتې د ګـل نـه پـوزې لـه نتکـۍ کـوی

غوښه لا څه شوملې پياتی کړی خو هم نه مومی
چک سور سوکړک پسې د ګوړې د چکۍ کوی

اخلـی د ګـډې پـه وړۍ خـواره جـامې لوټـه
د تېـل رنجـو سـوده د چـرګې پـه اګـۍ کـوی

نه ئې کټ شته نه ئې برستن نه ئې بالښت پوزکے
خوب په شړوټ کښې په لښې لښې ختری کوی

نـه خـو يـخ چـال نـه خـو ببـوزے **موسـی خـېـلـه** لـری
د زور مـات چـج پـه چـمبـه خپـل ځانتـه سيلۍ کـوی

PUKHTO.NET

د زول[1] شپه نرے باران و ډېوه ورو ورو بلېدله
ما د ژوبل زړه کيسه ورته په سرو وينو ليکله

نه په غاړه مې شړۍ وه نه ګرېوان کښې مې تنۍ وه
په ما خوار باندې جونګړه ځاے په ځاے راڅڅېدله

تصور بوتلم اشنا ته غلے ودرېدمه خوا ته
ما وړې وړې سلګۍ کړې دا په برق برق خندېدله

غرېو نيولي ؤ طوطيان ژړېدل تول بلبلان
ما بدله د ادم چې په شپېلۍ کښې غږوله

ناست په ګټ تن و تنها وم ستا په غم او په سودا وم
د اباسين هر چپه به ما په ګوتو شماروله

ناخبر و د وختونو **موسی خېل** و په سوچونو
شپه شوه تېره سباوون شو تورانۍ وچغېدله

PUKHTO.NET

[1] زول چې جرې پخه شي. هغې ته زول وائي.

# قطعه

قسمت مې پښې پرېږدي په سر ځي
په سمه نه ځي په شړ غر ځي

څه به ګیله کړي د جونګړې فقیر
چې د محل د ورنهر ځي

❋ ❋ ❋

# هایکو

بیا خپل پرونی خور له مه ورکوه
ما ستا په خیال غریبه وسکوندله
چې مخ یې لوخ کړو والله ډېر کچه شوم

❋ ❋ ❋

زه شوم په تا ته شوې په ما مېنه
حیران یم څنګ به زندګی تېروو
تاله پښتو ماله فارسي نه راځي

# یو شعر

د ظالم سره سختي د مظلوم سره نېکي ده
د مظلوم سره دې بد د ظالم سره معافي کېږي

❋ ❋ ❋

PUKHTO.NET

✻

که سپوږمۍ ښکلې ده ښکلې ترینه نمر شته
غرور مه کړه د هر سر دپاسه سر شته

تا چې خان د خپل جانانه مرور کړو
لټونیه څوک د خانه مرور شته

ته په ما باندې ذره باور که نه کړې
خو زما په تا د خانه ډېر باور شته

چې ما پره نه کړې محبوبې نه پره کېږې
ګني ما نه بل څوک ډېر زیات زبور شته

مونږ لمن د خپل کلتور پرېښودې نه ده
اوس خو هم زمونږ په سیمه کښې ګودر شته

ګل دے وموند د سپرلي په خړ خزان کښې
**موسی خېله** ستا نه نور څوک بختور شته

✻ ✻ ✻

PUKHTO.NET

# پیسه

پیسه پلار دے پیسه خور ده پیسه trور ده
دا بې پته د تمامو رشتو مور ده

رنګ او نسل ته نه ګوري د کم اصله
نۀ په سپین ده نۀ په سور ده نۀ په تور ده

هر سړے ورته ولاړ لاس په نامۀ دے
قدرمنه په هر کلي په هر کور ده

مشر ورور چې وي غریب کشر مالداره
بیا خبره ترې درنه د کشر ورور ده

دوه رنګونه د پیسې دي په یو رنګ کښې
زندګي پرې هم سپېره ده هم سمسور ده

کندې غرونه **موسی خبله** کړي هوار
د هر چا نه زوروره دا په زور ده

❋ ❋ ❋



PUKHTO.NET

❋

ښکاره کوم محبت تپوپ د سر نه بره وهم
چغه به نن د ملاکنډ د غر د سره وهم

چې قاتلان د محبت راباندې پوه نه شي
د يار خېګر نه پټ کنډر د خپل خېګره وهم

چې تصويران د تصور د يار توتې توتې شي
دا خپل زړګې مې نن په شړق د شين کمره وهم

دا مې ارمان دے چې داخل شم پښتونخوا ته کله
د دير په سين کښې به غوپه سمه ژوره وهم

تا خو د ژوند په هر ډګر ماسره ملا تړلې
پښتنې نن درته شمله د خپل خادره وهم

رقيبان خوګ دي چې زما د مينې لاره نيسي
زه **موسى خېل** د کوه مور سره ډغره وهم

❋ ❋ ❋

PUKHTO.NET

❋

په ژوند کښې داسې د نازکو مرحلو تېر يم
د تورو سورې مې په سر دے په لمبو تېر يم

ما وې د خشکې نه اوبو ته شوم اوبه به وڅکم
تر مرې ډوب تر ے هم سين کښې په چپو تېر يم

زما د قام سپرلے د مرګ خزان کړو ترمې ترمې
چې کوم خوا خم د انسانانو په کوپړو تېر يم

زۀ د حساس ضمير مالک يم څنګه غلے شمه
چې هره ورخ په نوو نوو حادثو تېر يم

ما **موسى خېل** نه مې جونګړه هېرولے نه شى
که هر څو زۀ د زرداړانو په بنګلو تېر يم

❋ ❋ ❋

PUKHTO.NET

٭

د سحر نسیم چې زلفې د یار ورو ورو رپولې
ګېر چاپېر په ټوله سیمه خوشبوګانې خورېدلې

ګڼ مرغان ورله راوالوته د ډنګو غرونو
کړې طواف د یار د حسن په ګډا په چورلکونو
زړه مې ډوب شو سترګو ډنډ کښې تورانې پرې چغېدلې
ګېر چاپېر په ټوله سیمه خوشبوګانې خورېدلې

د جانان د جلوه ګر مخ نه مې اور واخیست ځیګر
یار وژړو په لوېټه ما وژړو په خپل څادر
په وړو وړو کوکو کښې ښارونو اوبه راوړلې
ګېر چپاېر په ټوله سیمه خوشبوګانې خورېدلې

نیمګې چې یار شروع کړه بلبلان شو په رقصونو
بوراګان سر په مستۍ شو د ګلونو په سرونو
څاڅکې په څانګو ناستې وې موسکې موسکې کېدلې
ګېر چاپېر په ټوله سیمه خوشبوګانې خورېدلې

د رېدي سور رنګ یې ولګاو په پښو او په لاسونو
د شبنم غمې نې وپېلل د زلفو په تارونو
ښاپېرۍ ورسره اردل کښې **موسی خبله** ګرځېدلې
ګېر چاپېر په ټوله سیمه خوشبوګانې خورېدلې



PUKHTO.NET

چې د نېستۍ په باد ککړ وي سرې
که سل خل وړ وي نو هم پړ وي سرې

څه به د بل د تن نه تاو کړي څادر
چې پخپل تن باندې لغړ وي سرې

هر يو سړے ئې احترام عزت کړي
چې په جامو باندې لږ غوړو وي سړے

ماته تمام پښتانه يو شان ښکاري
د باجوړ که د کونړ وي سړے

ورته دعا کول فايده نه کوي
چې په شرکي حالت کښې مړ وي سړے

PUKHTO.NET

✲

په دې کوڅه کې به په کاڼو باندې سر ولمه
خو خامخا به نن په ګل باندې دلبر ولمه

خلق د غشو د ویشتو نه خپل ځیګر بچ کوي
زهٔ د ښو په غشو ځان له خپل ځیګر ولمه

چې دې تر څو د زړهٔ ور ماته لرې کړې نه وي
په اسوېلو به دې تر هغې د زړهٔ ور ولمه

تمام قامونه خپل ځوانان د بل په ضد جنګوي
زهٔ پښتون ځوان باندې پښتنه خپل بشر ولمه

تهٔ مې عزت تهٔ مې غیرت تهٔ مې الفت ئې یاره
**موسې خېل** ستا په سر خپل سر هم د بل سر ولمه

✲ ✲ ✲

PUKHTO.NET

مشرق روان دے د مغرب په قدم
خاک اړوی د خپل تهذیب په قدم

تل د استاذ په پل طالب روان وی
استاذ خو نه ځی د طالب په قدم

هله به رسی خپل زری مقام ته
چې مسلم لاړ شی د حبیب په قدم

د چا قصرونو ته پسخېږم ځله
هر انسان ځی د خپل نصیب په قدم

زۀ مشرقی یم مشرقی مې خوښ دے
ځم د حمزه خوشال غالب په قدم

که ورته لاره د جنت هم ښائی
هېڅوک خو نه ځی د غریب په قدم

که سرو ګلونو ته خپل ځان رسوې
ځه **موسی خېله** د عندلیب په قدم

PUKHTO.NET

✻

په سینه کښې مې زړۀ نه دے د اور سکور دے
تود بړاس مې په تمام بدن کښې خور دے

خوشحالي به تربونه څنګه سر اوچت کړي
په زړګي مې د غمونو غر نسکور دے

ستا د مینې په لمبو مې ځیګر سوځي
آه مې څکه د لوګي غوندې تک تور دے

یاره ستا غم مې د زړۀ نه وینه څکلې
ځکه پروت د خړ خیبر په شان سپور سپور دے

ستا د حسن د جلوو به څنګه لاړ شم
یو طرف ته ملاکنډ بل ته کېمور دے

دا خو یاره ستا د دوه سترګو پېرزو ده
**موسی خیل** پسې چې نن د وړو شور دے

✻ ✻ ✻

PUKHTO.NET

دولت نصيب غواړي په زور نه دے
څکه د خانه مې زړۀ تور نه دے

ولې د لاسو نه مې لاس تښتوي
خوار شې په لاسو کښې مې اور نۀ دے

د خر په شا دومره مغروره ناست دے
بنۀ دے د اس په شا چې سور نه دے

خان مه ښنده راځه د دوړو سره
دا د لوے چارې سړی کور نه دے

ولې خالي کړم د رباب نه حجره
بد د غيبت نه تنګ تکور نه دے

چې د اغيارو په قدم ږدی قدم
که مې خپل ورور دے هم مې ورور نه دے

ته به راځې په تا مې پور پورې دے
په **موسی خيل** دې پورې پور نه دے

PUKHTO.NET

✻

قلاره شومه ده سیندونه هډو شور نه کوي
سر په زنګون جانانه ناست یم ستا غمونو سره

نرے باران توره تیاره ده شمعه اور نه کوي
سر په زنګون جانانه ناست یم ستا غمونو سره

اور اورکي واړه اوده دي د ولو په غاړه
بوراګان هم کړي قلولي د ګلدرو په غاړه
انسانان څه چې پېریان غږ هم په یو لور نه کوي
سر په زنګون جانانه ناست یم ستا غمونو سره

PUKHTO.NET

تمامه سیمه ده خاموش د ادیرې په ډول
چاپېره کلی شر پراته دي د میرې په ډول
ډېر ډېر غوږ کېدم ګنګوسے څوک په یو کور نه کوی
سر په زنګون جانانه ناست یم ستا غمونو سره

اول چریانګ دے چرګ بانګونو ته خپل ځان جوړوی
کوچیان لګیا دی کوچ دپاره خپل اوښان جوړوی
مرغۍ چغارې په پامیر په کوه مور نه کوی
سر په زنګون جانانه ناست یم ستا غمونو سره

غمجن اواز ئې **موسی خېل** په زړه ازغی راکاږی
د تن مې وینه د خوږ ساز سره زیاتی راکاږی
شپېلۍ هر کله غږوم خو داسې سور نه کوی
سر په زنګون جانانه ناست یم ستا غمونو سره

❋❋❋

PUKHTO.NET

# حج

خان او غریب دواړه په یو رنګ کښې دی
ټول د حج د مینې په غورځنګ کښې دی

ذره هم څه غرور په چا کښې نشته
د ذات څه تصور په چا کښې نشته
ټول په یو څادر او په یو لنګ کښې دی
ټول د حج د مینې په غورځنګ کښې دی

څنګه چې ماشوم د مور پیدا شی
داسې د ګناه انسان صفا شی
څکه انسانان په دې امنګ کښې دی
ټول د حج د مینې په غورځنګ کښې دی

PUKHTO.NET

ډکې هم شين نه شي ماتولے څوک
يو ونښبته د تن نه شي وېستلی څوک
کل حاجيان د داسې امن رنګ کښې دی
ټول د حج د مينې په غورځنګ کښې دی

کله عرفات کله مينا کښې وی
کله دا ګلان مزدلفه کښې وی
کله د کعبې سره په څنګ کښې دی
ټول د حج د مينې په غورځنګ کښې دی

پرېښودې ئې بنګلې او محلونه دی
دا د پاکې مينې ثبوتونه دی
سرتور پراته د غرونو په سورنګ کښې دی
ټول د حج د مينې په غورځنګ کښې دی

څوک د پاکستان څوک د ايران دی
څوک د هندوستان افغانستان دی
تور دی او که سپين دی په يو رنګ کښې دی
ټول د حج د مينې په غورځنګ کښې دی

PUKHTO.NET

غـړ د ابـــراهيم چـې اوربـدلې دے
هغـــه کـــس الله را رســـولې دے
مېشته که په ارنګ که په برنګ کښې دی
تـول د حـج د میـنې پـه غـورځنګ کښـې دی

هـر څـوک د لبیـک لبیـک نـاره وهـی
چغـه خپـل مالـک تـه پـه ښکـاره وهـی
ژوندی جذبې د دیـن پـه هر پټنګ کښې دی
تـول د حـج د میـنې پـه غـورځنګ کښـې دی

حسـین هـر یـو څـاروے لکـه مـریخ دے
پـروت د اسـماعیل پکښـې تـاریخ دے
سم اختـه شیطان ویشتو پـه تـنګ کښـې دی
تـول د حـج د میـنې پـه غـورځنګ کښـې دی

حـج ئـې **موسـی خپلـه** مکمـل کـړو
شروع خپـل خپـل وطـن تـه ئـې مـزل کـړو
هـر کس سره زم زم خورمـا پـه څنګ کښې دی
تـول د حـج د میـنې پـه غـورځنګ کښـې دی

❊ ❊ ❊



PUKHTO.NET

❋

دا ستا ځواني، ته د چينار دنګه ځواني نه رسي
ګلهٔ ستا ګل مخ ته ګلونه د سپرلي نه رسي

د خونړي درياب نه پوري ته اوسېږې اشنا
ستا د بشر وصال ته څکه څوک ژوندے نه رسي

نور خو په هر کار کښې لقمان وزير بيربل يمه زهٔ
د عشق منزل ته زما بالکل هوښياري نه رسي

عشق په يوه شپه کښې انسان دومره جدا رسوي
چې په سدو ورته ديوان او ښاپېرۍ نه رسي

زهٔ چې ستا مينې کوم مقام ته رسولے يمه
دغې مقام ته د هېچا د خيال روشني نه رسي

❋ ❋ ❋

PUKHTO.NET

# څلور شعره

څکه ورځ په ورځ اضافه د لېونو کېږي
دومره مسايل دي وسايل چې ورته نه رسي

مونږه پښتانه هغه جازونه په ليندو ولو
توپ او ټوپک څه مزايل چې ورته نه رسي

ربه ته توفيق راله د هغې نېک عمل راکړې
د بل يو نېک عمل فضايل چې ورته نه رسي

دومره لوړ مقا ته بنی آدم رب رسولے دے
پېريان او دېوان څه جبرائيل چې ورته نه رسي

❋❋❋

# يو شعر

روان په سمه لار يم د وختونو په تيارو کښې
رڼا مې د شعور اور اورکی کوی په وړاندې

❋❋❋

PUKHTO.NET

✵

ستا د رخسار چې د ښايست سپينې شغلې ووتې
زما د زړه نه اتش فشان غوندې لارې ووتې

هر يو دېوال به ئې نسکور نسکور را وغورځېږي
که مې جانانه ته د زړه د دروازې ووتې

بيګا مې ستا خورې خورې زلفې ليدلې په خوب
د خولې مې ځکه په سحر سبا تپې ووتې

ياران سحر شي مرور بېرته ماښام پخلا شي
ياره زما ستا د مانې[1] خو بلا شپې ووتې

لکه د تور ښامار په تورو زلفو تک راکړو تا
د هر وېښته نه مې د وينو سرې چينې ووتې

چې پکښې بل کړو تا چراغ د ننه د خپلې مينې
ستا په رڼا د موسی خېل د زړه تيارې ووتې

✵ ✵ ✵

[1] مانې: خپګان، مرورتيا.

PUKHTO.NET

٭

وخت مې حلالې بخت مې په پړی لاس او پښې تړی
جبر پرې دپاسه دے پټې ژاله په خولې تړی

زه به د خپل قام د غريبۍ درته نور څه وايم
تار نه شي اخيستے په باديو پسې ريښې تړی

داسې بې ضميرو د حکومت واګې نيولې دي
خان له ځنګل زيلو سره ورې په مونږ ناغې تړی

زمونږه شا زلمي يوازې نه دي ننګيالي ګورے
جنګ کښې هم زلمو سره ملاګانې پښتنې تړی

خار شم د تورخم د تور کنډو د تورو کاڼو نه
يو بل سره په لار د پېښور کابل درې تړی

څنګه **موسى خپله** دې باچا ته مسلم ووايم
پرانيزي ميخانې د جوماتونو دروازې تړی

٭ ٭ ٭

✲

په شپېو باران ورېږي د کوټې ناوه چوړېږي
په مزه مزه مې يار راته غوږ کښې مشغولېږي

شروع کړې يار کيسه ده خاموشي ده نيمه شپه ده
د کچه دېوال په تاخ کښې په ورو ورو ډيوه بلېږي

راڅښېږي تول تاتوبے[1] ځاے په ځاے کېږي څڅوبي
بربوقې د غولې منځ کښې ځنې چوې ځنې جوړېږي

په غرو اورې بارانونه خړ خړ راغله سېلابونه
نېزه ورې د سيندونو د چپو په سر خوځېږي

توتکرکي په برګو کښې ښارونکي په منګو کښې
په خړ بام لمدې چنچنې په مستۍ مستۍ چغېږي

ګېر چاپېر لړې خورېږي شپه او ورځ نه معلومېږي
**موسى خېله** په کټوې کښې د مشنګ ګونګړې خوټېږي

✲ ✲ ✲

(1) تاتوبے: کور



PUKHTO.NET

٭

دا خپله عقیده ډېره نازکه راته ښکاري
خو تا پسې دا خپل ځان ملايکه راته ښکاري

مونډلې مو ویړیا د مور په غېږه کښې ملګرو
درنه مسلمانی مو ځکه سپکه راته ښکاري

تازه ئې کړې غير الله ته سجده ده
دا مخ ئې خلقه ځکه بې نمکه راته ښکاري

چې ورور په ورور پسې د قتلېدو په نیت روان شو
نن مینه په دنیا کښې ببخی ورکه راته ښکاري

چې نوم د سوشلېزم کمیونېزم خوږ خوږ وائی
په زړه کښې د اسلام نه بالکل کرکه راته ښکاري

په نه خبره ښځه په ټوپکو باندې ولو
انسان نه ګنو ښځه ګوګشتکه[1] راته ښکاري

٭ ٭ ٭

[1] ګوګشتکه: وړه صحرايي کونتره.

٭

دعا کوه زړهٔ چې ارمان دې د جانان پوره شي
په دې ارمان کښې به پخپله ستا ارمان پوره شي

زما زړګي توتې توتې کړه زهٔ به هېڅ نه وايم
ستا د بنګړو د ماتېدلو چې تاوان پوره شي

عقل او زړهٔ مې دوه په دوه د عشق په لاره نه ځي
ته ورسره شه د يار غمه چې کاروان پوره شي

کله چې راشي جدائي د عاشقۍ په منځ کښې
هله په مينه کښې بيا مالګه کورکمان پوره شي

ستا خو په يو نظر کتو جانانه هېڅ نه کېږي
د **موسى خېل** خوار به نيمګړې پرې دېوان پوره شي

٭ ٭ ٭

PUKHTO.NET

# ستر احمدشاه ابدالي بابا

فخر په مړانه تل کوو ستا ابدالي بابا
تاته مو سلام دے ننګيالے بابا

ټول پښتانه تا د اتفاق تار کښې پېيلي وو
لر او بر دې يو ځاے په يو صف کښې ودرولي وو
ځکه هر پښتون درپسې اوښکې تويوي بابا
تاته مو سلام دے ننګيالے بابا

ستا د هندوستان په هره سيمه حکومت و
په کلو په ښارو دې بلا بلا عزت و
بيا هم پښتونخوا تا يادوله په ډيلي بابا
تاته مو سلام دے ننګيالے بابا

ستا حوصلې مونږ له لوړې کړې حوصلې مدام
مونږ هېر کړې نه دي ستا عظيمې کارنامې مدام
پروت دے ستا تاريخ زمونږ په زړونو کښې خوندي بابا
تاته مو سلام دے ننګيالے بابا

PUKHTO.NET

داسې ژوندے ژوند تا پخپل ژوند کښې تېر کړے و
نوم دې د هر قام د پخل قام وړاندې زېر کړے و
اوس هم اغيار ستا په نوم واړه قلاروى بابا
تاته مو سلام دے ننګيالے بابا

کله چې تا سترګې د نړۍ نه پټې کړې دى
تل بيا پښتانه په سرو سترګو ژړېدلے دے
نه يې ده ليدلې يوه ورځ هم خوشحالى بابا
تاته مو سلام دے ننګيالے بابا

څنګه چې تېر شوے په نړۍ کښې ستا صورت دے
زمونږ دپاره داسې بل اتل ته ضرورت دے
هغه شان چې وکړى پښتنو له مشرى بابا
تاته مو سلام دے ننګيالے بابا

ګرانه موسى خېل چې ستا عظيم غوندې بابا لرم
څله بئا پروا د بل چا د رهنما لرم
تل به دې زه ستايم په شعرونو افغانى بابا
تاته مو سلام دے ننګيالے بابا

***

PUKHTO.NET

## قطعه

هسې زړه دې ورته نور انتظار نه کوي
د نصيب ونه مې شنده بار نه کوي

اوښکې لارې لارې کړي د کاڼي زړونه
چا ويل اوبه په کاڼي کښې لار نه کوي

## يو شعر

نه ده ممکن چې دا دعا قبول شي
چې زوے ئې نه وي او نړور غواړي څوک

## قطعه

د ژوند هر اړخ مې وکتو زمين کښې
بس سکون راته حاصل شو يو په دين کښې

راته ياد لقد خلقناه آيت کړي
چې کوم مخ ته وګورم د زړۀ آين کښې

❋❋❋



PUKHTO.NET

# لاپته يار

لاپتـه يـار پـه شړو غرونـو پـه ميـرو لتـوم
ډيوه په لاس ئې توره شپه كښې په تيارو لتوم

كلـه د ديـر او بـاجوړ پـه دنگـو غرونـو گـرځم
كلـه كوهسـتان او د شـنگلې پـه ځنگلونـو گـرځم
كلـه جنيـدى كښـې كلـه يـار پـه ابـازو لتـوم
ډيوه پـه لاس ئې تـوره شـپه كښې پـه تيـارو لتوم

PUKHTO.NET

هېځ پته نشته چې وفات دے که حيات دے جانان
خبر ترې نه يم چې په سمه که په سوات دے جانان
جاله کښې سور يم يار د سين په شنو چپو لټوم
ډيوه په لاس ئې توره شپه کښې په تيارو لټوم

لتکې لتکې رڼا چې وينم په دو دو ورځمه
خامخا ځان ور رسوم که په هر رو ورځمه
سحر سبا يار د کوچيانو په خيمو لټوم
ډيوه په لاس ئې توره شپه کښې په تيارو لټوم

کله خندا کله ژړا راشي په ځان پسې
**موسی خېل** ګرځمه تنها پخپل جانان پسې
په سرو غرمو ئې هشنغر په اديرو لټوم
ډيوه په لاس ئې توره شپه کښې په تيارو لټوم

❋❋❋

PUKHTO.NET

# يو بدن

مسلمان په مثال د يو بدن دے
بخارا دے که تاشقند دے که يمن دے

د يو بل په غم به ولې غمجن نه وی
يوه وينه يوه غوښه ده يو تن دے

خنک تر خنک به د يو بل خنک نه ودرېږی
يو ئې يار يو ئې اغيار يو ئې دښمن دے

د هر يو په خاوره خان قربانوی ټول
د هر يو وطن د ټولو خپل وطن دے

زړهٔ د يو مسلم د بل مسلم خپل زړهٔ دے
يو ئې درد يو ئې تکليف يو ئې درکن دے

ټولې ګوتې د بدن يو شانې درد کړی
**موسی خېل** ځکه په هر مسلم غمجن دے

❋❋❋

PUKHTO.NET

تا کچکول په غاړه در په دربانديٍ قبول کړمه
زهٔ به دې په سترګو او په سر باندې قبول کړمه

ستا د خال تک تور رنګ مې خوښ کړے په رنګونو کښې
خدايږو که بل رنګ د زړهٔ په ور باندې قبول کړمه

څنګ به ستا زړې لوپټې ته غاړه نه ږدمه
زهٔ دې په ريخې ريخې څادر باندې قبول کړمه

تهٔ زما کلتور تهٔ چې پخپل ښار کښې ښهٔ نه ګورې
ولې ستا کلتور په پېښور باندې قبول کړمه

ګله بغير ما نه بل بورا به ځان ته نه پرېږدې
بيا به دې د خپل زړهٔ په ډنډر باندې قبول کړمه

لاړې دې شي زما په ځاے د يار کور له بخنيله
زهٔ به ئې د خپل زړګی په ور باندې قبول کړمه

سر ځنه په فن دې ګله ښه **موسی خېل** کړې ده
راج به ستا د حسن په قمر باندې قبول کړمه



PUKHTO.NET

# څلور شعره

دا خو هسې امتحان په ما او تا دے
مونږ له نشته د الله څه ضرورت

نادانان چغې وهي چې ما باچا کړئ
هوښياران خو ځان ساتي د صدارت

خلق وائي امريکه روس طاقتور دي
خو زۀ وايم اتحاد دے لوے طاقت

غوسه تل د احمقۍ نه شروع کېږي
هم ختمېږي همېشه په ندامت

❋❋❋

# قطعه

زندګي څه ده بنده ګي ده د رب
بنده ګي څه ده پابندي ده د رب

توحيد څه ګرانه مسئله خو نه ده
منل يوازې خدائي ده د رب

PUKHTO.NET

✲

لوند مې نه ګرېوان ښکاري په مينه کښې
شک راته په ځان ښکاري په مينه کښې

ستورے به دې هار له بلا راوړمه
لنډ راته اسمان ښکاري په مينه کښې

تول کوي بې توله مينه نه شيندی
شوم راته جانان ښکاري په مينه کښې

اوړي نه د دار په سر د مينې نه
پوخ ئې سم ايمان ښکاري په مينه کښې

✲✲✲

## دوه شعرونه

دوه ځانګې خو دې د نصيب ونه کښې
يو ځانګه باری بله شنډه ده

مه ناوې کوئ دا افغانی پېغله
بيا هم دا د جنګ د لاسه کونډه ده

PUKHTO.NET

# پېښور

په سر شنې سرې لوپټې دي او په غاړه خړ څادر دے
دا ساده کښې چې رنګين دے دا زمونږه پېښور دے

دا بوډا بابا چې ناست دے د خيبر بازار کوڅې دي
په يوه کټوی، کښې ساګ دي او په بله کښې شوملې دي
سوړ سوکړک دے په زوړ شکور کښې د زلمو پرېې سم اختر دے
دا ساده کښې چې رنګين دے دا زمونږه پېښور دے

دا ښنه وږی چې ورتېرې اشنا دا هشغری ده
چې کاوې ورپکې څکے شي دا د ښار قصه خوانۍ ده
دا قلعه بالا حصار دے چې دا توپ ئې پاس په سر دے
دا ساده کښې چې رنګين دے دا زمونږه پېښور دے

چې راتاو ترې ملنګان دي دا روضه عبدالرحمن ده
دغه دنګه مناره د جومات محبت خان ده
چې پرې ناستې دي کونترې دا د ښار زوړ ګهنټه ګر دے
دا ساده کښې چې رنګين دے دا زمونږه پېښور دے

PUKHTO.NET

د پارو چې تاو واړه دي دغه دے چوک يادګار
چې دا جوني پکښې ګرځي دې ته وې مينه بازار
چې دا خلق ګڼ ور دروسي دا د ښار عجايب ګر دے
دا ساده کښې چې رنګين دے دا زمونږه پېښور دے

دا کوچوان چې پکښې پروت دے د اسونو تبيله ده
قلولې کوي ورګوره سترے شوے دے غرمه ده
ددې ښار دا روايات دے په تانګو چې دا سفر دے
دا ساده کښې چې رنګين دے دا زمونږه پېښور دے

دا پښتو سينما ده يوسف خان فلم پرې نن دے
چې دا ستن پرې ده ولاړه دا د ښار ريډيو سټېشن دے
چې دا ور ئې ببرته پروت دے د پښتو اخبار دفتر دے
دا ساده کښې چې رنګين دے دا زمونږه پېښور دے

دا خيالي دے چې خېمې شګو کښې والې دي کوچيانو
سر درياب کښې دي جونګړې د ماهيانو د ښکاريانو
دا دهقان بازګل کاکا دے چې لګيا په اوبه خور دے
دا ساده کښې چې رنګين دے دا زمونږه پېښور دے

PUKHTO.NET

دي اسلامیه کالج شاه زلمی چې دی یو کل
شین موټر چې لاندې تېر شو دا نومبړی سورے پُل
یاره دا آرمی ستېډیم دے چې رنګین ئې مازیګر دے
دا ساده کښې چې رنګین دے دا زمونږه پېښور دے

په ملنګ پسې چې شاته دغه غپ غپ د خړ سپی دے
ای زما مېلمه ملګریه دغه پُل خو د بخشی دے
دا د ښار شړې بارې دی خرمستی باندې چې خر دے
دا ساده کښې چې رنګین دے دا زمونږ پېښور دے

دغه ګڼ ځنګل چې ښکاری دلته دی پینځه پیران
دا شا ډنډ دے په رېړې باندې چې ناست دی ماشومان
دغې روډ ته وائی رینګ روډ تاو د ښار نه سراسر دے
دا ساده کښې چې رنګین دے دا زمونږه پېښور دے

دا دے صدر **موسی خبله** په بنګړو چې دے تالان
رنګارنګ ګلان چې ښکاری دا دے باغ باغی ناران
دا شینکے باغ شاهی باغ دے چې په ونو سم ببر دے
دا ساده کښې چې رنګین دے دا زمونږه پېښور دے

❋❋❋

PUKHTO.NET

✲

عشق داسې په ځان کړم چې ئې ځان رانه هېر کړے دے
خدايږو هر يو سوچ ئې په ايمان رانه هېر کړے دے

نه پکښې په مال يمه او نه پکښې په ځان يمه
مينې لېونی هر يو تاوان رانه هېر کړے دے

ځنګه به ئې کړۀ وړۀ وو په خيال کښې راله نه راځی
دې اوږد هجران مخ د جانان رانه هېر کړے دے

نه پوهېږم رنګ به د سپرلی د موسم ځنګه وی
رنګ د پسرلی سپېره خزان رانه هېر کړے دے

اوس ورننوځمه پردو پردو کورونو ته
غم مې د جانان خپل مکان رانه هېر کړے دے

تل راته اقوال د بزرګ او د صوفی وائی
دې بې علمه شېخ حديث قرآ رانه هېر کړے دے

يو ارمان په زړۀ کښې ئې د کلی راچولے دے
دې مسافری بل هر ارمان رانه هېر کړے دے



PUKHTO.NET

٭

سر قربـانوم پـه يـار مـا چوتـه فيصـلـه کـړې ده
مـا پـه ژونـدنې نـن د خـپـل ځـان جنـازه کـړې ده

د هـر انسـان پـه مـخ راغلـے دے د اوښکـو بـاران
چېرتـه چې مـا د خـپـل ژونـدون لـړه کيسـه کـړې ده

دغـه زمـا د جانـان کـړه ده چې خـې د کلـی
د هغـې پـورې چينـار لانـدې چې دمـه کـړې ده

زړ ګيـه زهٔ ئـې هـم پـوره پـوره تاييـد کومـه
يـار کـه ومـه خولـهٔ دے خبـره ئـې پخـه کـړې ده

راتـه ستا مينه لکه غر غونډې ودرېږي مخ کې
کلـه چې مـا د بلـې مينـې اراده کـړې ده

د انتظـار لمحـو دې دومـره ځورولے يمـه
د ژمـی شپـه کښـې مې بـدن تـوده خولـه کـړې ده

دغه زما د جانان کور ښکاری د کلی هېنځ کښې
چې دغې بـرج لـه ئې تـازه سپينه چونـه کـړې ده



PUKHTO.NET

✵

سحر مابنام ئې اوبه خور د زړۀ په وينو کوم
د يار په زړۀ کښې مې د مينې کرونده کړې ده

ولې به ستا د زړۀ په مېنځ کښې لاره نه وباسي
د زړۀ د سوخت نه مې په چغه نن تپه کړې ده

زما زړګے ئې ښه کړے دے په مېنځ ئې ولې
بانړه ئې غشي دی د وروځو ئې لينده کړې ده

راکه چې واړوم خوږې خوږې نغمې ورپکښې
چا د شپېلۍ د غړولو نه توبه کړې ده

دغه تړول ستا د لېونۍ مينې برکت دے اشنا
د **موسی خېل** غزل چې هر خوا دبدبه کړې ده

✵ ✵ ✵

PUKHTO.NET

# کابل او پېښور

غم ښادي د پېښور کابل يوه ده
ځانګې ځان له ځان له دي يوه تنه ده

کوششونه دي پرې هسې اغيار نه کړي
جدا کېږي نه د وينې دا رشته ده

يو زبان يو ئې لباس يو ئې تهذيب دے
که کونړ جلال آباد که چارسده ده

کندهار خيبر ئې دواړه تورې سترګې
غزني زړه دے د پښتو سوات ئې سينه ده

مذهبي اختلافات هم سره نشته
يو رسول(ص) په يو الله(ج) ئې عقيده ده

دوه کورونه يو مې دير بل مې لغمان دے
**موسی خېل** د زړګی ستاسو څه پرده ده

❊ ❊ ❊



PUKHTO.NET

❋

زړه دا دنیا که دې عقبا خوښه ده
حورې غلمان که دې لیلا خوښه ده

یو سپین رخسار بل تورې زلفې د یار
توره تیاره که دې رڼا خوښه ده

تسبیح دې قرض شراب نغده مزه
وایه ثواب که دې ګناه خوښه ده

ذره ذره ئې کړې ستم زړګیه
یار ته ښېرې که دې دعا خوښه ده

شوندې ګلاب سترګې چراغ د جانان
د کوم یو ښکلی دې ښکلا خوښه ده

نن یار پخپله دے ساقي زړګیه
چې څومره څکې جامونه ستا خوښه ده

❋❋❋

PUKHTO.NET

هسې عبث زمونږ بلا بلا پرې ناز دے
دا جهان خو حقيقت نه دے مجاز دے

د دنيا د ژوند اخر پړاو دے قبر
د اخر د ژوندانه قبر اغاز دے

دا خوشبو چې په فضا چاپېر خوره ده
چېرته نېک روح پاس اسمان ته په پرواز دے

چا چې خپل اختيار قربان ستا د اختيار کړو
هغه کس په دواړو کونو سرفراز دے

بيا په نورو غمازانو پسې ګرځه
اول ستا خو دا خپل نفس لوے غماز دے

مرګ خو يو دے په دنيا کښې **موسى خېله**
د اجل ځان له جدا جدا انداز دے

د زاهد رحمان د مرګ نه چې خبر شوم دا شعر مې وليکو، کوم چې زما د ترور ځښتن دے او د شالکنډۍ د ډنګيسا کلي دے.
نېټه: ۲۰۰۶/۱/۱۷

✲

پایځې ئې رابښکې لور ئې کېښود په اوږو
ورګډه شوله لېونۍ په جبو
پلو ئې خور کړو ساګ کوی د ترمیرو
ورګډه شوله لېونۍ په جبو

جارو ئې وکړه د هینلو د ولې غاړې ته
د شین اینځر په پټ ئې وتړله
ګېډۍ وروده پېشترے د بارې غاړې ده
د شین اینځر په پټ ئې وتړله

PUKHTO.NET

لاس کښې شلخې دے جب ئې ډک د خرېړو
ورګډه شوله لېونی په جبو

د شنو تازه لونګو نه امېل جوړوی
د سپلمې سوری ته کښناسته
د غونډېچرو د ګلونو ځان له نیل جوړوی
د سپلمې سوري ته کښناسته

د کوتي لال ګجرې ئې تاو کړلې د خپو
ورګډه شوله لېونی په جبو

په دو دو ځغلی موسی خېله په جودرو پسې
ګنج ئې وهلے د برګې لوپټې
اوتر اوتر ګرځی پټو کښې په کبلو پسې
ګنج ئې وهلے د برګې لوپټې

منجیله وکړه پنډ ئې جوړ کړو د وښو
ورګډه شوله لېونی په جبو

❋❋❋

PUKHTO.NET

✲

په ملاکنډ بولان پامیر کښې خندېدلې نه ده
کوټې کابل او پېښور پښتو ګټلې نه ده

دنیا اعلی تعلیم کوي په مورنۍ ژبه کښې
پښتون لا اوس هم په پښتوچیتې لیکلې نه ده

چې کوم پښتون په پښتو ژبه نه کړي ننګ پښتنو
هغې پښتون د پښتنې سینه رودلې نه ده

څۀ به د غیرو ګیله وکړم چې پښتو نه لولي
پښتون پخپله د پښتو ژبه لوستلې نه ده

پښتانۀ څکه غلامي د پردو ژبو کوي
مونږ خپله ژبه پښتو ژبې ته ویلې نه ده

یوه پښتو ده چې په شته قام کښې بې شته ژبه ده
ما بله ژبه په شته قام بې شته لیدلې نه ده

✲✲✲

PUKHTO.NET

# قطعه

په زړهٔ کښې هر چا له وی کور ځان له
مینه د پلار وی هم د مور ځان له

دا یوه مینه وی جدا د ټولو
د یار په مینه کښې وی سور ځان له

❋❋❋

# دوه شعرونه

ما ده د عشق په جوارۍ بایللے
دا مخامخ چې کوم محل ښکاری

رقیبه دا ئې د نفرت نخښه ده
ستا په مخ چاپ ئې د منګول ښکاری

# قطعه

د فریب نه پرې ولاړه مناره ده
بهر ښکاری جومات دننه میخانه ده

په نظر خلقو ته پاکې اوبه ښکاری
خو راوتې د پلیت خایه دا وله ده

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

په دې شپو کښې يوه شپه مې سپوږمۍ سرته ودرېدله
چې به ما ورته لاس وروړو دا به زر وتښتېدله

ورته ما د سوز ژړا کړه دې په ما پورې خندا کړه
د فرېب نه ئې زر شا کړه په اشنا کښې ځان نا اشنا کړه
ما وې راوړه دېدنونه دا په وروستو وروستو تلله
چې به ما ورته لاس وروړو دا به زر وتښتېدله

غونډ د ګلو ئې شبنم کړو سپور وربل پرې غوړ سنم کړو
ځان ئې لوند خوشت په يو دم کړو سور سالو ئې په سر سم کړو
پرې وچې کړې لمبو ته بيا کونتره والوتله
چې به ما ورته لاس وروړو دا به زر وتښتېدله

اوسېده مې د زړه هال کښې خامی نه وه په سور لال کښې
پټه وه د زلفو جال کښې جمال پټ و په جمال کښې
نمرين پړق ئې پنډو وکړو چې په سين ورګډېدله
چې به ما ورته لاس وروړو دا به زر وتښتېدله

د سپرلی رنګينه شپه وه د ګلونو باغيچه وه
په تک شين کبل پرته وه د ځوانی په خوب اوده وه
**موسی خېله** لکه شمع نسيم ورو ورو رپوله
چې به ما ورته لاس وروړو دا به زر وتښتېدله

❋❋❋

# نعت شریف

ستا بشر تـه رسېدے نـه شي افتـاب
نه دا ستا په مثل رنګ شته د مهتاب

زه بـه ستا د مـخ نـه ولـې نـه شرمېږم
سرهٔ ګلونـه کـوی ستا د مـخ حجـاب

چې چراغ وربکښې بل شو ستا د مینې
تورتمونـه مـې د زړهٔ شـو ټـول نایـاب

تهٔ پـه ټول عالم کښې داسې حسندار نې
پـه ګلونـو چـې حسـین دے خنـګ ګلاب

دا بـه یـاره زمـا لویـه خوشـبختي وي
چې غرقـاب شم ستا د مینې په دریـاب

**موسی خېل** بـه مېـن ولـې پـه تـا نـه وی
چـې الله پـه دو جهـان کـړې انتخـاب

❋❋❋

✵

ای د جانان غمه غم مې غوځ کړه فیصله مې کړه
څله مې لوګے لوګے سیځې هسته لمبه مې کړه

نوره زما مینه پټه پټه زړه کښې مه ساته
وخېژه پاس غر ته د شپونکي د خولې ټپه مې کړه

غم چې غلطوم پرې غمزده زړهٔ له د غم په وخت
ګله د رباب او د سیتار شپېلۍ نغمه مې کړه

زر شه څوک به راشي بیا به ما غاړې ته وباسي
مه مې ډوبوه ورو ورو دریابه زر غوپه مې کړه

پرېږدوه چې خوا دې د زړګي راباندې یخه شي
یاره د بنو په سر غلبېل غلبېل سینه مې کړه

یا ما **موسی خېل** د ځانه لر کړه تر لویدیځ ختیځ
یا مې ځان ته نوک او د اورۍ نه هم څېلمه مې کړه

✵ ✵ ✵



PUKHTO.NET

# اسلحه

باچا کهٔ په جهان چا زهٔ یوه ورځ مقرر کړم
ټوپک به وسېځم بم به لاهو په سمندر کړم

د جنګ د الوتکو نه به ماتې کړم وزرې
ډېران به هوائی ډګر نه جوړ کړم د خځلې
ناکاره به توپونه والله په هر سنګر کړم
باچا که په جهان چا زهٔ یوه ورځ مقرر کړم

PUKHTO.NET

بارودو لـه بـه وکنمـه سـم ژور کوهـے
د ځمکې سر بـه کړمـه ددې زهرو نـه خالي
ټانکونه به ګوزار د يو دنګ ګړنګ د سر کړم
باچا کـهٔ پـه جهـان چـا زهٔ يـوه ورځ مقـرر کـړم

خـرڅ بـه کـړم راکټ او توغنـدی پـه کباړيـانو
پيسې به نې تقسيم کړمه په کونډو يتيمانو
چاقو توره چاړهٔ به ټول ټوکړې په شين کمر کړم
باچا کـهٔ پـه جهـان چـا زهٔ يـوه ورځ مقـرر کـړم

دنيا به **موسی خبله** شي په امن کښې داخل
نـهٔ څوک بـه وي مقتـول نـهٔ څـوک بـه وی قاتـل
رابند د اسحلې په کارخانې پسې به ور کړم
باچا کـهٔ پـه جهـان چـا زهٔ يـوه ورځ مقـرر کـړم

***

PUKHTO.NET

# قطعه

څه نا اشنا چل مې زما سره دلبر کړی
دا چې ما پخلا کوی ځان مرور کړی

لبونی مې ده د ژوند په لار ملګرې
ګام په ګام راسره بر ناحقه شر کړی

❋❋❋

# يو شعر

حسن دے ستا مبارکی ئې خلق ماته وائی
ځوانی زما ده خوش نصیبه خلق تاته وائی

# قطعه

وخته بې وخته دې سپين بږيرے کړمه
بېخی ډېر د وخته دې سپين بږيرے کړمه

ارام مې ونه کړو د ژوند په غبږ کښې
په سخته سخته دې سپين بږيرے کړمه

# يو شعر

د تعليم د ډيوې نور وريکښې نشته
پښتانه ځکه په نه خبره شر کړی

# قرآن

په مونږ باندې عالمه د الله لوې احسان دے
چې مونږ ته ئې راکړے د خپل لورې نه قرآن دے

هر څو که انسان وائي خالقته لوې مصنف
والله چې بدلولے پکښې نه شي يو الف
زمونږ په دې وينا باندې بالکل پوخ ايمان دے
چې مونږ ته ئې راکړے د خپل لورې نه قرآن دے

قرآن پخپله ځان له يو عظيمه معجزه ده
ددې معجزې شوې هر حافظ ته اندازه ده
چې څومره لوے دے دومره يادولو کښې اسان دے
چې مونږ ته ئې راکړے د خپل لورې نه قرآن دے

شته پکښې دننه د عيسى او د موسى کيسه
پرته ورپکښې هم ده د آدم او د حوا کيسه
څومره پکښې ښکلے د يوسف هغه داستان دے
چې مونږ ته ئې راکړے د خپل لورې نه قرآن دے



PUKHTO.NET

ددي په دمولو کښې د هر مرض شفا ده
ذره پکښې شک نشته سل په سله دا رښتیا ده
تبه ده زهیرې دې که جادو دې که سرطان دې
چې مونږ ته ئې راکړې د خپل لورې نه قرآن دې

نشته پکښې شر د اغیار وینا غلطه ده
خان ئې نادان کړې دې د قصده ورته پته ده
قرآن خو د اول نه تر اخره ټول امان دې
چې مونږ ته ئې راکړې د خپل لورې نه قرآن دې

دا داسې جوخت ملګرې دې د چا نه جدا کېږي نه
ددې ملګرتیا ته ملګرتیا د چا رسېږي نه
دنیا او په اخر کښې ځنګ تر ځنګ دا د انسان دې
چې مونږ ته ئې راکړې د خپل لورې نه قرآن دې

ولې به ئې نه کړو **موسی خېله** احترام
دا د باچاهانو د باچا دې دا کلام
مونږه ئې مېزبان یو دا زمونږه خوږ مهمان دې
چې مونږ ته ئې راکړې د خپل لورې نه قرآن دې

❋❋❋

PUKHTO.NET

پوري کوی ډوډی تنور مینځ کښې غوټې وهی
سوځی په متهو زر لمدې لمدي ټوټې وهی

سر ئې ترلے په ټیکری[1] ناسته د ډنډ په غاړه
په سپک سوباړی د ورکوټی خان جامې وهی

د لېونی د چرګې ورک دے تور غاړے چرګوړے
چم په چم ګرځی د تیتی تیتی ناري وهی

د غر په سر کښې د همزولې په اوږو ولاړه
توري ګورګوري د ممانې په چوکې وهی

تیندک په لته ښۀ په زوره ورکوی ځمکې له
د بانی چغ په ټال کښې ګېر چاپېر جوتې وهی

د موسی خېل غزلې وائی د خپل چم جونو ته
ټکور په ګټو په نسکوره پتیلې وهی

[1] ټیکرے: لوپټه.

✵

چې اوبـه هـوا رڼـا ئـې پـوره نـه وي
د مېـوې دانـه بـه ځـۀ وشـي شـجر کښـې

چـې دلیـل ورسـره نـه وي نـه ئـې مـنـم
کـه اسـتاد وي پـه دېوبنـد او پـه ازهـر کښـې

يـوه خـاوره وي د رب کمـال تـه ګـوره
ځـان لـه ځـان لـه ذايقـه وي هـر ثمـر کښـې

شـي پـه خـاورو کښـې د خـاورو سـره خـاورې
اصليت چـې موجـود نـه وي پـه ګـوهر کښـې

چې خر بار نه وړی نو چاق چوبند ئې ځه کړم
د خـوراک غوښـه خـو نشـته دے پـه خـر کښـې

پـه ګـونګټ د مشـک عنبـرو خـوارۀ لـړې
بوراګـان خـو د بوبـو مـري پـه ګـوبر کښـې

✵ ✵ ✵



PUKHTO.NET

# دیر

چې د دنګو دنګو غرونو ابشارونو روڼ تصویر دے
د جنت په شان چې شین دے دا زمونږه ښکلے دیر دے

هغه غر دے د نزیه چې لړېږي یخ شمال
دا لمن د کامرانۍ ده چې خرېږي پکښې مال
دا تهوکرۍ چې ترې ډکېږي دا باغونه دي د خال
دغه سین دے پانچ کوره چې ښکاریان اچوي جال

دا بازار دے تیمرګره چې ماشوم لګیا په قیر دے
د جنت په شان چې شین دے دا زمونږه ښکلے دیر دے

هغه سیمه ګندیګار ده چې لښتي دي شنهٔ روان
بره ول باندې یادېږي چې هر کور کښې دي غوزان
ګوره دغه ډوګ دره چې ولاړ دي ګڼ توتان
دا میدان دے چینارانو کښې چې ناست دي شنه توتیان

دا کوهستان دے هر یو غر ئې چې تصویر د مصور دے
د جنت په شان چې شین دے دا زمونږه ښکلے دیر دے

چې دا واورې پرې پرتې دي هغه څوکه د لوړی ده
ګبر چاپېره چې شنه شنه ده دا دره د عشیری ده
چې دا یخه په مخ لړی د کمراټ یخه سیلی ده
سلطان خېل که پاییده خېل دي هم تورمنګ دره ډولی ده

دا سپېڅلې ښک دره هر سپین بږیری کښې چې خیر دے
د جنت په شان چې شین دے دا زمونږه ښکلے دیر دے

اشنا دا ولي کنډو دے چې خپل ګوړ کوی دهقان
دا جندول دے د شاهۍ په غر وربږی چې باران
دغه ناو د سر اړې دے چې چړچقې کړی زرګان
دا منډه دے په ډنډ کنده کښې چې ښکاری شنۀ ډنډان

چې فصلونه ئې سمسور دی **موسی خېله** دا ګمبیر دے
د جنت په شان چې شین دے دا زمونږه ښکلے دیر دی

❋❋❋



PUKHTO.NET

د هېچا سره بد مه کوه بد نشته
په زړهٔ کښې حسد مه کړه حسد نشته

د ګناه د سزا ځان له حد دے
د نېکۍ د جزا بالکل څه حد نشته

هسې لاندې تربنه مه نيسه جامونه
ډمډه مارو مچوګګ کښې شهد نشته

د لورۍ د غرنه ځان ګڼې اوچت
په مقدار دې د جوار هومره قد نشته

د ګيدړ بچي خو واړه ګدړان وي
د ګيدړ بچي کښې يو هم اسد نشته

مجازي نوم خو سرحد د پښتونخوا دے
حقيقت کښې پښتونخوا ده سرحد نشته

PUKHTO.NET

٭

ډوب ولاړ د مینې په سو راور کښې یم
بیا هم خفه نه یم ښهٔ په سور کښې یم

مړ اور به د مینې بیا لمبه کړمه
زهٔ ژوندی سپرغی. پاتې مړ سکور کښې یم

ستا د زړګی کور ته به دروړم کډه
تنګ مې ددې خپل زړګی په کور کښې یم

تهٔ که په مستی. د پېغلتوب کښې ئې
زهٔ هم ښهٔ زلمے یمه په زور کښې یم

ستونے مې نور هر محفل کښې غوټه وی
بس خوشحاله یو په ټهنګ ټکور کښې یم

تل مسافری. کښې **موسی خیل** یمه
چېرته یوه شپه نیمه په کور کښې یم

٭٭٭

PUKHTO.NET

✻

ماته په هر څۀ کښې صفا ښکاري
د قدرت نخښې د خدا ښکاري

نزدې هر چاته د خپل خانه دے ډېر
هسې خو مونږه ته جدا ښکاري

یو حقیقت دے پټېدلے نه شي
هم په زمین هم په هوا ښکاري

زۀ به مثال درته کوم وایمه
د رب حکمت ټوله دنیا ښکاري

نور ئې پرقبرې په سپوږمۍ ستورو کښې
هم ئې په بوټو کښې ښکلا ښکاري

لوے صفت ئې **موسی خېله** دادے
چې په ښکاره کښې هم پنا ښکاري

✻ ✻ ✻

PUKHTO.NET

✲

خنګ دا دعوه پرېږدمه دا د پرېښودو دعو ده
وړه دعوه نه ده د زړه د قتلېدو دعوه ده

زما تاوان ډېر دے که ستا محبوبې دا ووايه
ستا د منګې زما د زړۀ د ماتېدو دعوه ده

هله راووېښيسئ وړو چې درنه لاړه نه شي
په لېونې مې د زړګي د پټېدو دعوه ده

په يوه ساه ئې څوک په هاړ کښې اوبه نه شي څکلے
واورو نه يخې مې د غرونو د چينو دعوه ده

په **موسى خېل** چې ته د يو رومال زبادنې کوې
زما په تا هم د بلابلا بنګړو دعوه ده

✲ ✲ ✲



PUKHTO.NET

کـه هر څو ربـه زهٔ ډېر زيات ګناهګار يم
نـا اميـد د رحمـت نـه يم اميـدوار يـم

دا شيطان رانـه جدا کړه نو زهٔ نېک يم
زهٔ د دې ظـالـم د لاسـه نـه بې لار يـم

کـهٔ نادان وے هېـڅ پروا مې پـه تـا نـه وه
ځکـه سـتـا نـه زهٔ وېرېږم چې هوښيـار يـم

فوقيـت پـه ټـول مخلـوق دے تـا راکړے
زما غوښه نه خوري څوک دومره مردار يم

نـوره هېـڅ ذره خـوبي پـه مـا کښې نشته
بـس يـوه خـوبي لرمـه چې خاکسـار يـم

چا ويل چې **موسى خېل** دے بې روزګاره
زهٔ خـو سـتـا صفت ليکمـه پـه روزګـار يـم

PUKHTO.NET

# کوټه، کابل او پېښور

هر یو زما د زړګي سر دے
کوټه کابل که پېښور دے

جلال آباد خوست مې لېمه دې دواړه
د سترګو تور زما خیبر دے

دیر او کوهاټ جګه شمله ده زما
غزني زما ریښمین څادر دے

د کونړ سین ته چې څوک ښه نظر کړي
دا اباسین ته ښه نظر دے

په یو نظر ګورمه دریواړو ته
بولان پامیر دے که تورغر دے

د **موسی خېل** خوښه چې کوم خوا اوسي
یو کور مې لر دے بل مې بر دے

❋ ❋ ❋

POKHTO.NET

✵

د ملاکنډ په نهر ښنګ چې دغـه غـر پـروت دے
دومـره لـوے غـم مې د فـراق د زړهٔ پـه سـر پـروت دے

کـهٔ پـه سـحر کـهٔ پـه مابـښام کـهٔ غـرمـه رادرومې
هـر وخـت مې ببرتـه سـتا دپـاره د زړهٔ ور پـروت دے

ښنګ راتـه وايې د وعـدې تـېر شـه واپس مـه ورځـه
زمـا د سـر پـه سـر کـښې هلتـه د يـار سـر پـروت دے

زمـا د زړهٔ د مـانـو سـتـا د زړهٔ کـور داسـې ښکـاری
بالاحصـار نـه چې ښکـاره ښـنګ پېښـور پـروت دے

داسـې پرهـر د زړهٔ پـه سـر سـتـا د ښهـو پـه سـر شـوم
داتـش غـر چې ښـنګ پـه سـر پرهـر پرهـر پـروت دے

کـهٔ د دنيـا پـړی ورښکتـه کـړې هـم نـه ور رسـی
د عشق درياب کښې **موسی خېل** دومره ژور پروت دے

✵ ✵ ✵

PUKHTO.NET

✵

تا چې خان کړو پړ او زۀ دې وړ کړمه
زۀ مې خپل ضمیر پخپله پړ کړمه

نه دې کړم زندي نه مې مړې پرېږدې
نه دې کړم ژوندې او نه دې مړ کړمه

تور مو کړه مخونه د نېستۍ لوګو
تۀ ئې چنګړې زۀ چنګړ کړمه

نه شم راوتلې د کوټې بهر
زۀ د نېستۍ باد داسې لغړ کړمه

کند کچکول به واچومه غاړې ته
کور په کور به ټول د مینې چړ کړمه

اوس مې لا څه شک په شهادت کوې
زۀ ئې د خپل یار په غېږ کښې مړ کړمه

✵ ✵ ✵

PUKHTO.NET

اوښکې دې په مخ داسې مړې مړې لګي
څنګه چې شبنم په ګل د شپې لګي

زه ورته لتکے په شپه کښې نه وهم
سوو اسوېلو نه مې ډېوې لګي

زه تل مازيګر لېونے کېږمه
چا وې لېونے چې د غرمې لګي

څنګ به مې د زړه غوټې ګل کېږي نه
ستا د نمرين مخ نه پرې شغلې لګي

شمعه دې د مخ جانانه بله کړه
نمر په غرونو پرېوتو تيارې لګي

جونه به بيا غرونو ته راوخېژي
هر شو په ګورګورو کښې دانې لګي

✲

مونږه د پاو په ځاې مدام مینه دړې ورکړې
چا که لاسونه دې راکړې مونږ غړې ورکړې

چا ویل چې مونږه مېلمستیا د مېلمنونه کوو
مونږ مېلمنو له تل د خولې خپله نمړې ورکړې

نشته احسان د بنګلا والو چې پیسې راکوي
مونږ په محنت د تن خوله هره ګړې ورکړې

د پښتنو یوې پېړے بې ننګې نه ده کړې
د خپل سرونو قربانۍ هرې پېړې ورکړې

اوس به مو خامخا د کور په دېوالونو راوړي
د خپله لاسه نه چې غلو له مونږ پاوړې ورکړې

شال او شړې ته **موسی خبله** الله پاک نه ګوري
اخلاص ته ګوري که چا شال که چا شړې ورکړې

✲✲✲



PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

کـور کلے نشـتـه شـړ بيابـان دے تنهـائی ده يـاره
ځـان مشـغـولوم سـتـا د خـوږو خـوږو يـادونو سـره

خـړه جونګـړه مـې کـوډۍ دا مـې هـسـتـی ده يـاره
ځـان مشـغـولوم سـتـا د خـوږو خـوږو يـادونو سراه

زۀ د ادم د نسـل بـېـل يمـه جـدا يـم اشـنـا
د څـو څـو غرونـو د غونـډو نـه زه پـنـا يـم اشـنـا
زمـا پـېـريـانو سـره دلتـه غـم ښـادی ده يـاره
ځـان مشـغـولوم سـتـا د خـوږو خـوږو يـادونو سـره

په لاسو خپو کښې مې د ظلم زولنې پرتې دي
لا د حالاتو مې په شونډو هم پټۍ پرتې دي
خندا لا څه چې په ژړا هم پابندي ده یاره
ځان مشغولوم ستا د خوږو خوږو یادونو سره

بوره زړګے جانه تا پسې غمجن غمجن دے
لشې لشې غونے مې خوږ په ټول بدن بدن دے
لړې خورې دي د زول شپه سخته یخني ده یاره
ځان مشغولوم ستا د خوږو خوږو یادونو سره

توره تیاره ده **موسی خېل** پکښې په ځغل دے غر کښې
اوتر اوتر ورګوري ورک ور نه منزل دے غر کښې
هره لمحه مې د ژوندون ازغے ازغے ده یاره
ځان مشغولوم ستا د خوږو خوږو یادونو سره

❋❋❋



PUKHTO.NET

# توهين

څنګه د توري د ګولۍ او د خنجر نه کوو
د خپل رسول(ص) په سر پرو هم د خپل سر نه کوو

نن که غمجن د محمد(ص) په توهين مونږه نه شو
هسې عبث دے مدينې ته بيا سفر نه کوو

چې د کوثر په ساقي سر قربانولے نه شو
بيا دې ترې تمه د جامونو د کوثر نه کوو

PUKHTO.NET

ایمان ایمان به په خوله وایو ایماندار خو نه یو
چې په سیرت صورت مو ننګ د پیغمبر نه کوو

ځنګ خپل مذهب ته چې د بل چا سپک نظر نه منو
داسې د بل مذهب ته هم مونږ سپک نظر نه کوو

پایمال کوی چې روحانی جذبې د خپو د لاندې
پلوی بلکل ددې رنګ آزاد خبر نه کوو

مسلمانان ډېر نادانان یو **موسی ښله** ځکه
د کافرانو په فریب چې سوچ ژور نه کوو

دا شعر مې په هغه وخت کښې لیکلے دے کله چې د اروپا په اخبارونو کښې د خوږ نبي حضرت محمد (ص) کارتون چاپ شوے و.

***



PUKHTO.NET

د ارمان سر ته د روڼ خيال په وزرونو خېژم
د زړۀ په غځل د مستۍ مينې په موجونو خېژم

دا خو برکت ستا د الفت دے چې نه شلېږي په ما
چې د بام سر ته ستا د زلفو په تارونو خېژم

تارو خو نېم چې د وربل په غوندو نه شم ختے
زه خو شاهين يمه په دنګو غرونو خېژم

لار را نه نه شي ورکېدے پل مې منضبوط نيولے
د جانان ښنګ ته د جانان په قدمونو خېژم

ساده رقيب راته په لاره کښې ازغي غوړوي
زه خو په مينه کښې د تورو په سرونو خېژم

د غم خزان د **موسى خېل** هر يو اندام وهلے
لکه غنم بوټے چور چور په تول بندونو خېژم

PUKHTO.NET

# قهرمان

ستا نوم به په تاریخ کښې تل ژوندے وی قهرمانه
ته نه ئې وېرېدلے د وختونو د توپانه

په سر به دې مدام وه د توتو زړه پګړۍ
په تن به دې جامې وی د خامتا یا بېستی
دا وه خاکسارې په مال کښې کم نه وې د چا نه
ستا نوم به تل ژوندے وی په تاریخ کښې قهرمانه

توپک په ځای دې قام له ورکوو لاس کښې قلم
د امن امن غږ به دې کوو په هر قدم
د دین نه هم خبر وې هم خبر وې د دنیا نه
ستا نوم به تل ژوندی وی په تاریخ کښې قهرمانه

منلې نه وه تا د انګرېزانو غلامي
پېښېږی داسې لږ خلق دنیا کښې ننګیالي
تا غږ د آزادی به هم کولو د زندانه نه
ستا نوم به تل ژوندی وی په تاریخ کښې قهرمانه

کړې دې ارام نه و ذره په زندګی کښې
ټول عمر دې تېر کړې په ځغل او په سختی کښې
ګران درته خپل قام و والله ډېر د خپله ځانه
ستا نوم به تل ژوندی وی په تاریخ کښې قهرمانه

تا فرق نه کاوه په عیسی خېل او موسی خېل کښې
پېیلی دې یو شان وو د مینې په امېل کښې
د یو لاس ګوتې وې دې د اټک نه تر بولانه
ستا نوم به تل ژوندی وی په تاریخ کښې قهرمانه

❊❊❊

٭

کښنه لــړه کښنــه بیـــا بـــه لاړه شـــي
ناسـتـه خــو لا نــه ئـي چـې ولاړه شـي

پتــــه دې ددینــــه د حیـــــا لګـــــی
زه چـې درتـــه ګـــورم زېــړه پاڼـــه شــي

کلـه کـړې تـک تـور کلـه سـکنې لبـاس
کلــه تورانـــی شـــي کلـــه زانـــه شــي

ماتـــه وایـــي ګـــل شـمه کـــه شـمع شـم
ښـه بـه وی چـې یـاره راتـه دواړه شـي

ښنګ چې **موسی خېل** لتاړ لتاړ کړو تا
داســي تــه هــم مینــه کښـي لتـاړه شـي

٭٭٭

پـه دوام کښـي چـې کومـه زه ارام
غـلا بيـا ولـې نـه کـوم چـې کـړم دوام

چې په ګېډه کښې حرام خواړه پراته وي
بـې مطلبـه هـم رکـوع ده هـم قيـام

چـې د ژبـې د نظـر قـابو ئـې نـه وي
لـوږې تندې تـه بس نـه وائـی صيـام

د تمـــام وطـــن مجـــرم يمـــه زړګيـــه
زۀ بـــه غـــواړم معـــافی د کـــوم عـــوام

د بـاران د آب بـه څـۀ مـخ نيـوے وکـړی
چـې پـه وربـځـه راڅـخـېږی کـوم خيـام

**موسی خبلـه** د شيکس سره مخ کېږی
اتحـاد چـې موجـود نـه وي پـه کـوم قـام

PUKHTO.NET

# يو يو شعر

شپېلۍ غږوم د يو اشنا د پاره
خو د ګوتو سر ته دنيا راخېژي

❋ ❋ ❋

ستا مستې مېنې په پيرۍ کښې بيا زلمے زلمے کړم
لکه جوار مې په سپين سر کښې بيا تور تار ولګېد

❋ ❋ ❋

ګوره څومره ډېر هوښيار زما جانان دے
چې زما په ورانډې بالکل خان نادان کړي

❋ ❋ ❋

نور ګلان که وے مېن چېرته په حسن
نمر پرست غونډې به نمر پسې کاږه وے

❋ ❋ ❋

بيا به ما سره نمبر د تلو راتلو ږدې
زما شل ځله د رتلۀ اول پوره کړه

❋ ❋ ❋

څنډ د ملاکنډ په سر لندو زلفو له وركړه لږ
جوړ چې کبر چاپېر په پښتونخوا کښې بارانونه شي

❋ ❋ ❋



PUKHTO.NET

✲

ګرم نه دے که مې زړه ستا په خالونو پسې ګرځي
بورا مدام چاپېره په ګلونو پسې ګرځي

په ګلو مينه نه وه په بڼارونو مينه نه وه
زړګے مې ګوری مينه اوس په غرونو پسې ګرځي

پرواز مې تخيل وکړو د ځمکې نه اسمان ته
ستا خال له د شفق په رنګونو پسې ګرځي
دا چغې چې د امن امن وائی په دنيا کښې
هم دا خلق پخپله په جنګونو پسې ګرځي

ښکارېږی دا وګړے بې قوف د زمانې دے
اميد کړی د ثواب په ګناهونو پسې ګرځي

✲ ✲ ✲

PUKHTO.NET

# دوه شعرونه

څه وشو نن که نړیوال سپوږمۍ ته وختله
د پېړو وړاندې زمونږ عرش ته د ختو دعوه ده

زما رب به شو که ستا رب به شو پرې غور وکړه
زه خپل رب جوړ کړم ستا د خپل رب جوړېدو دعوه ده

❋ ❋ ❋

# څلور شعره

سحر مابنام غرمه ئې څکلې دی زمونږه وینې
په مونږه داسې ظالمانو تل حکومت کړے دے

د اباسین په تاترین کښې دې کوډې لاهو شي
چا که ذره هم د پښتو سره خیانت کړے دے

کافران هم په فطرت د اسلام پیدا دے
د مور پلار په وجه ئې کفر کښې شرکت کړے دے

ورله عذاب به موسی خپله بالکل نه ورکوی
چا چې خالص صرف الله له عبادت کړے دے

❋ ❋ ❋



PUKHTO.NET

٭

چې ګل ورپسې نه وي تش ډنډر مې پکار نه دے
ننګ چې پکښې نه وي هغه سر مې پکار نه دے

اوس شور ورپکښې نشته مازیګر د مستو پېغلو
وره نومه د چینار د یخ ګودر مې پکار نه دے

انځور چې سره نشته انځورګر بېرته رخصت کړه
انځور زما پکار دے انځورګر مې پکار نه دے

خوشحال په محرم کښې یم د خپل وطن په غېږ کښې
د بل وطن په غېږه کښې اختر مې پکار نه دے

یو څاڅکے شراب غواړمه خمار له د سرو شونډو
د نورو شرابونو سمندر مې پکار نه دے

الوت چې پرې د ځمکې نه اوچت کولے نه شم
د چرګ غونډې بې کاره ستر وزر مې پکار نه دے

٭ ٭ ٭



PUKHTO.NET

٭

که دا جهان یوازې وي هغه جهان نه وي
د ظالمانو د ظلمونو به پرسان نه وي

چا به خوړلې د ډېران په سر مردارې غوښې
چې تول مارغان بازانو وې پکښې کارغان نه وي

نرو دې ښځو ته په بده سترګه مه ورګورئ
که ښځې نه وې په يو کور کښې به نران نه وي

قدر پکار دې د بدرنګو ددې ښکلو نه ډېر
د ښکلو قدر به نه وي که بدرنګان نه وي

څومره به ښه وي چې ډيورنډ کرښه په مېنځ کښې نه وي
په درې حصو کښې به تقسيم وس يو افغان نه وي

بيا به زما نه وه ګيله چې پردۍ ژبه ليکې
د پښتنو که **موسی خېله** خپل زبان نه وي

٭٭٭

✻

بند په بند مې ملا تړلې په څادر د عشق سفر ته
په دو دو په طل طل خېژم د ارمان د غونډۍ سر ته

خپل خړ اوښ سنبالومه څم د برکلي کولال له
مات کودری راوړم یار له د ورخاړي د ګل کر ته

توري زلفې ګوری ګور اننګو باندې خورې کړه
خلق ړدي باغ کښې شپولونه د پخو منو شجر ته

زۀ به هم ورله نظر کښې فولادی غشی پیدا کړم
که تا واچو فولادی زنځیر جانانه د زړۀ ور ته

د ناوړه توپانونو حادثو سره مخ کېږي
زړۀ هر قسم لامبوزن شه د وختونو سمندر ته

یا ساده ئې **موسی خېله** یا په زړۀ ډېر زړور ئې
پاس د غر په سر ولاړ ئې اشارې کوې دلبر ته

✻✻✻



PUKHTO.NET

تورې خاورې مې د ملک خدايه سپين وره کړې
تمام ورې ئې ډوډۍ باندې ماړه کړې

چا چې څکلې د غريب اولس وی وينې
تول د وينو د ګرڅون په مرض مړه کړې

خير که مونږ په سخته کښې زاړۀ شو
خوارۀ مو په راحت زاړۀ کړې

چې مو زړونه د کينې د زنګ صفا شی
خدايه مونږه بيا د سره نه واړه کړې

ظالمانو له فولاد مظلوم له موم دے
د هر قام د پښتون قام په شانې زړۀ کړې

د بل چا نه که به يار جدا کوی څوک
د خپل يار سره ئې ته غوښه چاړۀ کړې

شته مړونو کښې دی ناستې بې مړونو
ته د هرې پښتنې په کور مېړه کړې

PUKHTO.NET

## قطعه

هم دنیا شی هم اخر شی بدلولے
چې ته وغواړې تقدیر شی بدلولے

ماشوم یو شان زلمے بل شان بوډا بل شان
د انسان څو څل تصویر شي بدلولے

❋❋❋

## قطعه

نور به هر شیخ د وینا تېر شو تول
پیغام د پیغمبر به چاپېر شو تول

هله به خبره د یو بل اورو
څان چې من من نه گڼو او سېر شو تول

❋❋❋



PUKHTO.NET

✻

څوک دي دا اولس چې د جهان نه پاتې شوے دے
ناست په نیمه لار کښې د کاروان نه پاتې شوے دے

یو او دوه خو نه دي چې نومونه درته یاد کړمه
کوم یو ښار زمونږه د تالان نه پاتې شوے دے

څکه یې سینګار پوره نه ښکاري نیمګړے دے
خال د وروځو مېنځ کښې د جانان نه پاتې شوے دے

لاره د هر ملک غریبۍ ورته ښودلې ده
کوم ملک د دنیا د پښتون خوان نه پاتې شوے دے

غلا مې پېښېدے نه شي د زړه اندېښنه نه لرم
کار ئې زما لاس کښې د ګرېوان نه پاتې شوے دے

هر عذاب ددې دور انسان باندې راغلے دے
بس خو یو د کاڼو د باران نه پاتې شوے دے

خم مبارکۍ له د جانان که مرور یمه
وی به **موسی خېل** چې د تاوان نه پاتې شوے دے

# دعا

ما متقي نه ما امام د متقيانو کړې
د ځان خيرخوا نه ما د ټولو انسانانو کړې

د خپل سکه بابا مدد يوازې نه غواړمه
ما مددګار د ټول جهان د بوډاګانو کړې

چې ورله اوښکې د ښو او د لېمو وچوم
ما ته رومال د مظلومانو د چشمانو کړې

چې د هر کلي د هر ښار په سر خلا کومه
ما تل د امن سپين بيراغ د جهانيانو کړې

چې د سر سورے د نادارو يتيمانو شمه
ما ګور ځنګل د نښترو چينارونو کړې

چې مخنيوے کړم د باطل د تبر تلوار **موسی خېل**
زغره ډال ما د حق پرستو شبابانو کړې

❋❋❋



PUKHTO.NET

انسان یم د نېکۍ سره ګناه هم رانه کېږي
روا هم رانه کېږي ناروا هم رانه کېږي

رباب هم ټنګومه تسبیح هم اړومه
تقوا هم رانه کېږي تماشه هم را نه کېږي

څم کله سجدې له څم کله میکدې له
وفا هم رانه کېږي جفا هم رانه کېږي

په یو حال پاک الله دے انسان ترې مبرا دے
خندا هم رانه کېږي ژړا هم رانه کېږي

د دین کار هم کومه د سادین کار هم کومه
دنیا هم رانه کېږي عقبا هم رانه کېږي

ګرم نه یم **موسی خېل** دماغ مې دی قلیل
رسا هم رانه کېږي خطا هم رانه کېږي

PUKHTO.NET

منزل ته نژدې نه شوم د منزل نه لرې کېږم
چې څومره ځم په مخکې دومره وروستو پاتې کېږم

دنیا بې غیر کشتۍ د سمندر په منځ کښې ګرځی
قسمته زه کشتۍ سره ساحل باندې ډوبېږم

زړګیه اعتماد مې دومره ورک شو په انسان
خپلوان او پردې څه چې د خپل ځانه هم وېرېږم

چې نن نه ژاړم ژاړم نو بیا به کله ژاړم
وطن او د جانان نه په کلونو جدا کېږم

زړګے راله پرده کښې راکوی که نه دلبره
دنیا په شور خبروم ګورے د غر په سر ودرېږم

د ژوند په عام حالت کښې **موسی خېل** یمه په ځمکه
چې شعر کله لیکمه اسمانونو ته رسېږم

تـګ د ورک پـه پـل د نادانـۍ انتهـا ځکـه ده
تاته به څه لار وښايي ځان له تړې لار ورکه ده

نه منم چې شته دے په نشو کښې هم درنه نشه
نشته په نشـو کښـې درنـه هـره نشـه سـپکه ده

هر فن ئې محنت باندې اسمان ته رسولے دے
ځکـه امريکـه نـن د تمـام جهـان ملکـه ده

PUKHTO.NET

فرض ئې په يو دوه مؤمنانو حفاظت نه دے
کعبه د ټول جهان د مؤمنانو مشترکه ده

کله به مسلم امت په يو پينډال کښې جمع شی
دا د حسرت غنه مې د زړهٔ په سر کښې لکه ده

ولې غلا غدې وکړم د ځمکې په سر ګېډې له
روزی چې راته وړاندې مقرره د فلکه ده

ګام په ګام په دشتو کښې ګلان راټوکېدلی دی
څومره سپرلے خېزه دا زما د وطن ځمکه ده

هېڅوک **موسی خېله** پښتنو کښې پردی نشته
ټوله يوه وينه د کابل نه تر اټکه ده

❋ ❋ ❋

خامخا په محبت کښې مې راغلې څه کمی ده
شک مې ورسېد یقین ته چې د بام څوکه خالي ده

وعده نه رسوي سر ته څو څو ځله وعده وکړي
معلومېږي په وفا ئې د جفا تله وزنی ده

محبت محبت نشته د نفرت سندرې وايه
محبت هسې کیسه پاتې په حال کښې د ماضی ده

یا ئې زړهٔ زما کړو صبر یا پرې چم تهول خبر شوے
یا ماما کره ده تلې یا مریضه په زېړی ده

اراده مې وه مضبوطه چې منګے به ترېنه ولم
خو نن رانه غله ګود ته زوروره په تندی ده

که تمام عمر پرې بوخت ئې یو الف به پرې جوړ نه کړې
د اوبو په سر چا کړې لېونیه لیکائی ده

د یو بل نه خلق داسې **موسی خېله** بې پروا شو
په یوه کوڅه کښې غم دے او په بله کښې ښادی ده

✲

هر یو کار په عملي کولو کېږي
په ارزو باندې مقصد نه حاصلېږي

اول یو پاټکی ته خپه کاندی بیا بال ته
یو دم څوک د بام په سر خو نه ودرېږي

هر یو کار په ابتدا لکه ماشوم وي
ماشومان اول په کټېڅپسې پاڅېږي

لازمې بې قدمونه ږدی په مخکې
بغیر تګ نه څوک منزل ته نه رسېږي

چې څوک تلې د ښوونځي په لوري نه وي
پروفیسر خو څوک په کور کښې نه جوړېږي

هر یو کار نه غواړي صبر **موسی خېله**
بعضې کار په صبر صبر خرابېږي

✲ ✲ ✲

PUKHTO.NET

✲

خدايـه مـا مـه بـوډا کـوه زمـا ځـوانی خوښـه ده
زمـا د زړهٔ د يـار د زړهٔ سـره مسـتی خوښـه ده

ما پکښې يو ځل هم په ژوند کښې گټه نه ده کړې
خـو زمـا هسـې دا د ميـنې جـواری خوښـه ده

لاسـونه واچـوئ ملگـرو اتنونـه کـوئ
غمونه ورک کړئ زما هر وخت خوشحالی خوښه ده

درسره نه کړم اتفاق چې مرگ د ژوند نه ښه دے
ورک دې شی مرگ زما د مرگ نه زندگی خوښه ده

چـې دا د ريـا دپـاره ښکتـه پورتـه کېږی مـدام
زمـا د داسـې مـونځ نـه سل بې نمـازی خوښـه ده

پـه زړهٔ کښـې دومـره محبـت انسـانيت لـه لـری
د **موسی خېل** هـم د دښمن سره دوستی خوښـه ده

✲✲✲

✵

ګناه خو لږه ښه وي ګناه رب وريادوي
نېکي ته پام کوي د رب غضب وريادوي

مسلم چې کله ويني د دنيا نور مذهبونه
خوبې ورته د خپل اسلام مذهب وريادوي

اديب معاشره کښې کار کوي د ملا د تير
اديب خو انسانانو ته ادب وريادوي

✵✵✵

## يو شعر

په سيرت صورت که ښه وي هم ښه نه وي
که غريب سړے هر څه وي هڅه نه وي

✵✵✵

PUKHTO.NET

✲

هسې وېم مېن وربانـدې ډېـر يمـه
بس هلـه د سـر نـه پـرې ورتېـر يمـه

دومره په ما دروند په محبت کښې دے
پـوخ مـن دے جانـان زۀ کچـه سېر يمـه

بـې د زور او زېـر مينـه نيمګـړې ده
زه خـو د نـون زور او د مـيم زېـر يمـه[1]

يو سېلاب د اوښکو بـل د هجر تـاو
اور او د اوبـو تـر مېنځـه ګېـر يمـه

ډال د هـر مظلـوم د سـر دپـاره يـم
زۀ د هـر ظـالم سـر لـه شمشېر يمـه

ستا د زلفـو هر تـار بـه تـرې ډک کړمـه
ناسـت د ملغلـرو پـه لـوے ډهېـر يمـه

دومره کړم خوشبو چې خومره سېځی مې
زه خـو پـه فطـرت لکـه نمیـر يمـه

[1] مينه


PUKHTO.NET

٭

هر څو که ستا د مینې په اورونو کښې مې کور دے
والله چې د سپرلی په سرو ګلونو کښې مې کور دے

کـرکڼې او ګورګـورې بـه پـه لپـو لپـو درکـړم
جانانـه غرڅنے یمـه پـه غرونـو کښـې مـې کـور دے

پخـو پخـو مـانو کښـې زمـا کـور مـه ګـوره یـاره
د خـاورو پـه کچـه کورونـو کښـې مـې کـور دے

مـړ زړۀ بـه دې ژونـدے شـی د مـړزو پـه چړچقـو
شېرینې شین خالی په شنو فصلونو کښې مې کور دے

د یـخ سـوری د لانـدې بـه جـوتې خـورو پـه تـالونو
پـه دنګـو ګـورو ګـورو چینـارونو کښـې مـې کـور دے

ستـا خوښـه چـې منګـے د کـوم نـه تـه راوړې جانانـه
پـه منبـځ د درې څلـورو ګودرونـو کښـې مـې کـور دے

څـه مـه د **موسی خېل** سره پـه تـک بـه شې پښېمانـه
جانانـه پـه اوږدو اوږدو ډاګونـو کښـې مـې کـور دے

٭٭٭



# پېژندګلو

نوم: ........................... امير خان

تخلص او قام: ..................... موسى خېل

د پلار نوم: ....................... امان الله خان

صوبه/ ولايت: ..................... كوزه پښتونخوا

ضلع/ ولسوالى: .................... كوز دير

سيمه: ........................... جندول

تحصيل/ علاقه دارى.................. منډا

كلى: ............................ بازارک

**خـــفه خفه يم د ښارونو منځ کښې**
**خوشحال خوشحال په سردرو کښې يمه**

چاپ چارې

دانش خپرندويه ټولنه قصه خوانى ـ پېښور

Tel/Fax 92-91-2564513 E-mail danish2k2003@yahoo.com